اسلامی انقلاب



مؤلف
میاں گل صاحبزادہ

راشه وگوره پښتو فارسي اشعار — شه اوچت علمي دیني دوخت په کار
فلسي عبرت امیز خبرت انگیزه — وینونکي مضامین نوي بهار
راشه گډ شه دې گلزار د معرفت کي — پکښې ووینه انوار د کردگار
دا په نوم د اسلامي انقلاب جوړ شو — سم خنجر ده دشمنانو ته خونکار

وبه گورې د ردونکي داستانونه
پخواني د خداي مینو دار مدار

اسلامي انقلاب

PROPERTY OF ACKU 1941

دا بلکل د فلسفو ښکلي نچوړ دې
درته وبه ښئ هر رنگه بازار

ورته څیر شه ښه ژور مطالعه ته — درته وبه ښئ د لوی د استعمار
دشمنان به دی په گوته گوته شئ! — درته وبه ښئ هر رنگه غدار
له دی هسي درانه خو به به دې وېش کړي — وبه گورې د دښمن دام او شوردار
میاگل صاحبزاده سوي څېگر شو — د دشمن په هغه کار ستا پدی کار

د دیوان لمړی ټوک

مؤلف میاگل صاحبزاده

براہین مؤمن

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم ط

دموندلودرک

یونیورسٹی بک ایجنسی خیبر بازار پشاور

قیمت : ۲۵ روپے

فهرست مضامین کتاب براهین مؤمن

شمېر	مضمونونه	مخ
۱	مقدمه	۶
۲	به اغیاري شدي مزمور ماندي	۸
۳	زما عرض	۱۳
۴	زه دي پېزنم غداره چي دشمن ئي	۱۶
۵	دکتاب دلیکلو وجه	۲۰
۶	توحید	۲۵
۷	نعت شریف	۲۸
۸	لا إله الا الله محمد الرسول الله ص	۳۱
۹	په خوب کی د مصطفیٰ ص ملاقات	۳۵
۱۰	غزل (دجال ئی خوار او زار که)	۳۹
۱۱	دظاهرشاه په زمانه کی د ملحدو پالتیو غوبل	۴۱
۱۲	ای غداره نابکاره خلاص به نه شی	۴۷
۱۳	د خلقیانو په ځیل کی د سترګو لیدلی حال	۴۹
۱۴	د داود خان کړو وړو ته یوه کتنه	۶۷
۱۵	د حراغار د مېنی دلدار	۷۵
۱۶	د مسلمان بچی یم	۷۹
۱۷	طائف ته د رسول (ص) سفر	۸۱

شمېر	مضمونونه	مخ
۱۸	نصیحت	۹۲
۱۹	ستا په قتل به ځان کړمه بختور	۹۴
۲۰	د انګلیس او ابلیس مشترک نېالګی (غلام احمد قادیانی)	۹۶
۲۱	سور استعمار	۱۰۸
۲۲	د حضرت اسمعیل ذبیح الله (ع) د ردونکی قیصه	۱۱۱
۲۳	د کسب او کمال ستائینه	۱۲۹
۲۴	کرامت	۱۲۱
۲۵	د کمونیزم چرندیات او پنځه دوری	۱۲۳
۲۶	د مسلمانانو برم ته ایشاره د حضرت امام حسین (ع) ویاړلی قیصه	۱۲۷
۲۷	د کویټ څخه د را رسېدلی لیک په ځواب کی	۱۳۴
۲۸	غزل	۱۳۷
۲۹	د ترکی په نام د موکرتیک	۱۳۹
۳۰	د مسلمانانو قیام د کمونستانو په ضد	۱۴۳
۳۱	رسوا شوی ای بی د ینه	۱۴۶
۳۲	روس خپلی اشتباه ته متوجه شوه -	۱۴۷
۳۳	خامخا به پورته کېږم	۱۵۰
۳۴	ریاکار یا غدار	۱۵۲
۳۵	د وطن په یاد	۱۵۵
۳۶	د غرائضو رول په انسان کی او د دنیا د محبت تاثیر	۱۵۹
۳۷	د دنیا عاشقان او په ګېډه قربان	۱۶۵

شمس	مضمون نو نه	صفحه
۳۸	ددنهاد عاشق پشی مانی	۱۶۹
۳۹	داهنه قومندان دهٔ -	۱۷۲
۴۰	لبز وبنس شه مسلمانه	۱۷۵
۴۱	پیچیدهٔ اسرار	۱۷۸
۱	فارسی از کتاب براهین مومن	۱۸۰
۲	تالش برنامهٔ جانانه اسلام چهرهٔ فلسفه هائی پوشالی بشری نمایان می سازد	۱۸۲
۳	غریب دشت سوزان روز عید امت	۱۸۷
۴	جهاد مقدس	۱۹۰
۵	اقسام جهاد	۱۹۳
۶	تعریف وحکم جهاد	۱۹۵
۷	ای مجاهد خادم قرآن بیا	۱۹۸
۸	بیا دمیهن	۲۰۱
۹	وقار من	۲۰۴
۱۰	ایمان دریاب	۲۰۸
۱۱	مناجات	۲۱۰
۱۲	اندرزها	۲۱۵
۱۳	بترس از آنکه قبرت نار گردد	۲۱۷
۱۴	ماکجا قرآن زبهر ما کجا	۲۱۹
۱۵	شدند حاکم زدونان پدر عاق	۲۲۱
۱۶	ایا طبیعت و تعارف متواند نظم وعقل را به میان ارد	۲۲۴

بسم اللہ الرحمن الرحیم

مقدمہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ سَیِّدِ الْمُجَاھِدِیْنَ وَاِمَامِ الْمُتَّقِیْنَ وَقَائِدِ الْغُرِّ الْمُحَجَّلِیْنَ وَعَلٰی آلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَمَنْ جَاھَدَ فِیْ سَبِیْلِ شَرِیْعَتِہٖ اِلٰی یَوْمِ الدِّیْنِ ط اما بعد

دین مبین اسلام کہ برای نجات بشریت از گودال ہلاکت و جہالت، صراط مستقیم و خط مشی مبین بودہ ملاک و معیار سبیل حق و نظام عالی مکمل است کہ از ہمہ جوانب سعادت و ارتقاء چنگ زنندگان راستین این برنامہ مبین را بہ منزل گاہ، معرفتِ مظاہر صفات جمال و جلال ذات اقدس واجب الوجود تضمین می نمایند سیرہای لاہوتی و ملکوتی و بلاخرہ راہ پیمائی ھای جبروتی و ناسوتی را نصب گردیدہ مظہر صفات جمالی میگردند این نعمت عزاء شریعت را ذات اقدس الوہیت بر مخلوق شریف انسانی ارزانی نموده کہ ایشان تحمل تکلیف بارِ گران خلافتش را بکمال شہامت و ایمانداری با عشق سرشار پروانہ وار برداشتند و مصدر تجمل (فمنھم من قضی نحبہ) قرار گرفتند این قافلہ سالاران کاروان سبیل حق علاوتاً بشر را از گودال بدبختی و ضلالت نجات داده بہ سر منزل نجاح و فلاح ثوق دادند مصداق آیہ متبرکہ (ولتکن منکم امۃ یدعون الی الخیر) گردیدند۔

اما آنکہ از اغوائی شیاطین در گرداب غفلت فرو رفتہ طعمہ دیوی طاغوت گردیدند (صم بکم عمی) در تاریکی ھای بربریت و غلامی دست و پا میزنند مانند امعہ ھای بی بند و بار در راہ ھای ہدایت و ضلالت در حیرت بودہ، ہمچون وحشت زدہ غرق تلاطم ھای

امواج طوفان بهر چیز دهر جا امید برده پابوسی هر نوعه خس وخاشاک نابکار
را در عالم مجبوری دنبال می نمائیند و به امید بالا رفتن به قهقرا می روند
عدهٔ خود فروخته گان حلقه بگوش طاغوت ضمیر انسانی را از دست داده مانند
درندهٔ وحشی خون آشام بار می آیند و بدترین دیوی لجام گسیخته مانند و بای مهلک ساری
تبارز می کنند. چنانچه عناصر مرتد افغانستان از میر شرافت بدر شده کلمهٔ
اشراف را مورد تمسخر قرار می دادند. و پدران و مادران خود را به سر نیزه جابرانه
استعمار به خون کشیده برای راضی ساختن بادار خود بان جشن می گرفتند و
کف می زدند. اینک این رساله را غرض آگاهی کافی برادران تقدیم داشته ماباشد که

خوانندهٔ محترم دربارهٔ این داعی دعای خیر نمائیند با احترم

والسلام

داعی الی الخیر **میاگل صاحبزاده** (مؤسس یوگرد باشندهٔ زرمت)
پکتیا افغانستان

به اغیاری شدی مزدور ماندی

به اسلام مبین کامل درائید
به نور تابناکش باز آیید
زگرداب چنین حالت برائی
اگر الحق به ایمانت درائی ـ
که رستی بار دیگر از فلاکت
شوی شاهین بپروازی به شوکت
نهی پائی به افلاک و به گردون
رسی بر عرش در گلزار بی چون
بیا بالا برو از غم رها شو
چرا افتادهٔ باری بپا شو
چرا محتاج اغیاری همیشه
به خمر دیگران باشید نیشه
چرا فقر و ذلت بر تو نوشتند
ز تو افتاده گان بالا نشستند
به اغیار نگر کارش کجا شد
چرا مؤمن به این ها مبتلا شد
کجا شد برم دیرینه کجا شد
به غفلت این همه بر ما روا شد
بدیدی آنکه از مران گرفتند
به فهم و نور آن بالا برفتند

به ظلمت ها (یورروپ) در قهقرا بود
زمانیکه ظهورِ مصطفیٰ بود
به مردم پاپ اسقف ها کشش ها
خرافاتِ روا میداشت انها
به پیسه می فروختند نمره ها را ۔
زجنت هر حریب از قاره ها را
تجاران جنت بودند ایشان
به هر کس واسطه می شد کشیشان
چو مظلومِ کسی دل ریش میشد
به دعوا عرضِ گویان پیش می شد
به یکجا با درنده غول حیوان
همیکردش به یک خانه غریبان
بفکر انکه گر عاصی بود آن
خورندش شیر وحشی غول در آن
ولی گر نیست عاصی پاک هستند
ازین حیوان نجات حتمی بیابند
وگر در قبر مرده مرد میشد
زنش هم بهر خدمت کرد میشد
به شویش زنده زیر خاک می کرد
غریب گر گریبان چاک می کرد
به اسلام فتح شد شام و فلسطین
مدیترانه کنارش ترکِ پشین

فتوحات تا به قفقاز پیش آمد
چو بینرانیتن بُسی دل ریش آمد
دو طاغوت بلندگوی زمانه
ز پا افتاد این غول ترانه
به شمشیر مجاهد فتح گردید
عنان لاخدایان قطع گردید
یکی طاغوت فارس بود دیگر دگورد
دیگر بیزانت و تین زمانه نمرود
دو صد سال بود در جنگ صلیبی
روپا با مسلمانان شتابی
درین جنگ ها اسیر می شد ازان ها
او روپائی بدست مومنان ها
به ایشان می نمود دارالخلافت
ز کرداری مسلمان با فراغت
بسی از نور قران می گرفتند
به آگاهی کامل باز رفتند
همین بود آمد و شد انقلابی
او روپا را دیگرگون کرد طلابی
مثال آورم گوستالبون را
که خود قربان شد از او زبونرا
ازین جا فهم قرآن را بیاموخت
درونش نور ایمان را بیاموخت

به پاپ و استقفان رفتند انجا
خریدند کل جهنم را ز آنها
بسازد تا به بطلانش دلیلی
شوند در پیش هر کلمه ذلیل
چو پاپان دید از دوزخ خریدار
به فکرش امد این بی فهم مالدار
به ناچیزی بدادند دوزخ را
گرفت گوشتالبون اسناد آنرا
بیامد در فرانسه داد میزد
به مردم هر دمی فریادی زد
که آهای مردم جهنم را خریدم
شمارا لازم جنت بدیدم
ازین پس مرد جنت خرمه باشید
به یوع همچو نان نر خرمه باشید
مه رو بر پای بوس همچو احمق
مده بر باد خود را حق بگو حق
همین تحریک قرآن بود یا نه
که این مردم شدند بر بام خانه
ز گرداب جهالت باز جستند
به افلاک و قمر بالا برفتند
به قرآن این بس است از افتخاری
که از نورش قمر شد سر فخاری

بیا بشنو بحق دینی سماوی
چه خوش نامش بود افتاب ثانی
شکرافشان شود کام ودهانم
که اسلام شکرافشان خوانم
بیا بشنو ز قرآن گر بصیری
علوم کل جهان گر فهم وگیری
بیا گر خواهی باشی مرد مومن
به فوز هر دو باشد از تو ضامن
بحق احق شوی بر ارتقائی
بیابی نام وعنوان وبقائی
ز نور پاک قرآن شد همه شد
چرا آهی بی خرد بر تو نمی شد
حقیقت این بود بس دور ماندی
به اغیاری شدی مزدور ماندی
به صدها همچو دنیا وجهانست
به قرآن مقدس این وآنست
بیا بر خیز بر تو یار جانست
بجز نورش بتو منزل گرانست
ز قرآن هیچ نیست یکره زره عیبی
زمن برمن بود آشکاره عیبی

میا گل میکند چون شعر خوانی
ز بهر آنکه تا بیدار مانی

زما عرض

گرانو عزیزانو د خدای ج دلاری سربازو مسلمانانو او د قران په مینه مستو شاه زلمیانو

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد

زما د ډیرې مودې دا خیال وه چې عزیزانو د دین وړیالو عاشوقانو ته د قلم په ژبه د زړه دردونه بیان کړم او تاسو سره د مسلمانو د اوچت بوم افتخار امیزه یا دونه او د استعمار چیانو په ننګینو نشو د مسلمانو د درانه خوب غمونه شریک کړم خصوصاً د مخ په نمو ځوانانو سره د دشمنانو د کرغیړن او ناپاک اسلام د ښمنه اغراضو په باره کی و ګړیګم دا ځکه چی د دې طبقی د ذهن لوحه صفا وې او دشمنان هم د همدې طبقی دا غواګرې د پاره په راز راز د سیسولاس پورې کوی او په مختلفو ابلیسانه غولونکو لباسونو کی ځان ښکاره وې کله خود دوستئ په سپین لباس کی راښکاره شی او د دوستئ د خوګو خبرو په نشه کی غواړې زما او ستا خوږ روح یعنی خوږ اسلام را څخه پر دې کړې

اوکله بیا په داسی ناځوان مردانه توګه د اسلام په غاښ ماتوونکی اوصولو او فروعاتو باندې خیالی او لفظی حملی کوی چی د اسلام ناخبره ځوانانو د پاره د شک سبب ګرځی - کله خولا داسی کوې چی د ځینو غافلو مسلمانو نیمګړې اعمال اوکړه وړه په اسلام ور تپی او وائی د اسلام خودا کار او نتیجه ده ؟ فلانی نه ګورې؟ او یا هغه د اسلام مدعیان وګوره او اسلام پرې قیاس کړه په داسی حال کی چی د بشری الکولی نیمګړې دماغ څخه راوتلی فلسفی او اصول هم په داسی قیاسونو نه ردېږې او یوازې ئی د پیروانو کړه وکړه نه شو بللی او نه د کاغذ په لیکلی معادلی بی د عمل څخه د معادلی نتیجه ترلاسه کولای شو د مثال په ډول :-

$$H_2 + O = \text{اوبه کیږی}$$

خود اهله چی د معدلی مواد د معدلی د اوصولو سره سم د عمل په میدان کی پیاده شی -

ایا یوازې هائیدروجن اوبه بللی شو؟

ایا یو مالیکول هائیدروجن به د دو مالیکولو آکسیجن سره اوبه پلاس راکړې ځوابے ښکاره دې چی کله به هم په عمل کی نیمګړې اصولو د اصول نتیجه و نه بللای شی خو د داسی پوچو اعتراضاتو څخه د علم په برکت د خلاصون لاره موندې شو ځکه خو قرآن پاک د عقائد علم فرض ګڼی او فرمائی (فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ) معنی دا چی عالم شه پدی باندې (چی بی له رښتنی معبود څخه بل د عبادت لایق او

مستحق څه او څوک نشته) د (فاعلم) صغه دامر صیغه ده او وجوب
فائده کوي نو ځکه خود عقائد و علم فرض دي البته په اجمال سره داسی
فرض ده چی په انتفا سره ئی انتفا د ایمان راځی یعنی دومره خو به
هر و مرو پوهیږی چی خدای ج حق او واحد ذات دي هغه څه
چی دده ج په نزد حق او ثابت وي هغه واړه حق دي او مامنلی
دي اګر که د دښمنانو د اعتراضاتو کوم چی په اوصولو او فروعو د دین
باندي وارد یږي د دفع کولو قدرت ونلري او د دي تفصیلی
علم حاصلول هم لازمی دي او په نه حاصلولو ئی انسان ګنګار دي
ځکه چی بی خبره خو د جومات په ځای کادانی ته ننوزي دختي
او خیستي فرق ورته ګران وي یو متل دي وائی ناخبره د مرکی
لیوه دي - ټوکه ده وائی چی یو ناولی په روجه کی په رټا ورځ
زردالو خواړه بل سړي په قهر ورته وویل ورورہ روجه ولی خوري
اخر مسلمان خوئی دي په ځواب کی وائی دا روژه ده که زردالو
نو د دښمنانو دغه رنګه قیاسونه لوازي د اسلام څخه د بی خبره —
خلکو د پاره د شک سبب وګرځی او پچه ورته پیچوی شی ما هم
د دی د پاره چی د اسلام د دښمنو شیطانانو څیری و پیژنو او د دوي
د ناپاکو شیطانی د سیسو څخه په امن شو نو د (براهین مؤمن) په نامه
می دا کتاب په پښتو او فارسی اشعارو ولیکه او هڅه می او کړه چی
د خو بولیو مسلمانانو د پاریدو د پاره ښکلی محرک مضامین پکښی
ځای په ځای کړم

له بلی خوامی د ځوانانو د علاقی وړ ویشه ونکی اشعار وړاندی کړه ترڅو د ځوان نسل مسلمانانو د پاره د دښمن په مقابله کی بهترین غوڅونکی خنجر وي او زما د پاره د خیر او سعادت مایه وګرځی امید چی د حق تعالی له خوا قبول شی (امین ثم امین) زما یوازنی هیله به د لوستونکی څخه د خیر د دوعا غوشتنه وي

الداعی الی الخیر میا ګل صاحبزاده
د داعیو نو علماؤ منشی

زه دی پیژنم غداره چی دښمن ئی



که په هر رنګه لباس کی راڅرګند شی
د دې هسی کرشمو څخه شکاره ئی

ښه دې پیژنم غداره چی دښمن ئی
که هر څو مره د خوګ لت یوه ټوټه ئی

که هر څو په لباسو ځان ښاسته کړي
زه د پیژنم ابلیسه زمانه ئی

که هر څو مره جوماتونه ښکلی جوړ کړی
زه دې پیژنم مکاره راښکاره ئی

کد (هورا) رمباړی پریږدی کد پری نه ږدې
کد هر څو په الا الله باندې اخته ئې

کد زرگونه زیارتونه اوس اباد کړې
چی پرون دې قرآن غورځاوه هغه ئې

چی ملادې تمدن ته خنډ بللو
اوس همهغه ته جړ یگی مزکه ئې

چی روښانه نور دَ خدای دی گل کولو
په پوکی په باټو هغه بد نښه ئې

چی اسلام ته دې تریاک دجامعی وی
هسی خیال دې باله هغه توره شپه ئې

چی طاغوت دې د میهن وارث گڼلو
همغه ئې داوروس دسرشانه ئې

چی دگل غوندې بوستان دې کنډ والد کړ
همغه سور استعمار ئې بل څه نه ئې

دالاسونه دې زما په وینو رنگ دې
دافغان په وینو هسی رنگینه ئې

چی میلون میلون ځوانان دې سر په دار کړه
هم هغه د مظلوم وینو ته جوگه ئې

بنگلی دې کنډوالی کړې لوټې لوټې
لا هسی د پردو په سامانه ئې

کنډوالو کی ماشومان پہ جړاسر دې
سرولہ ړلو تہ کافرہ سرہ برچہ ئی

سرہ اورونہ اور وې پہ غریبانو
چنګیز پہ خرد جال ئی بل څہ نہ ئی

دغہ تہ ئی سرہ روسیہ اوس پټیږې
سړی خور ئی وینی څېښونکی ئی اوتہ ئی

چی پرون دې زمونږ میرندپہ وینو رنګ کہ
اې انګریزہ تہ هم هغہ شرمندہ ئی

هم هغہ د استعمار رنګ دې راشکاری
هم هغہ تورہ تیارہ بدہ دورہ ئی

تہ هم ګورہ هندوګیہ ماتہ وریت شوې
کہ هر څو خپلہ غلام ئی ورسرہ ئی

استعمار تہ نوکرې کوې لګیا ئی
کہ هر څو پہ باټو ماټو کی پورہ ئی

استعمار دی هڅوی پہ نوشادرو
ګورہ تہ ماتہ معلومہ سپیرہ خرہ ئی

لکہ زما د تورې شرنګ دی چی هیر کړې
نن پہ بېلو بېلو څوکو کی اختہ ئی

هندوستان کی دی تورتم جوړدہ مؤمن تہ
جو ماتونہ دې شهید دی مسخرہ ئی

درته خلاص به شم زه بیا هغه محمود یم
بت شکن یم بیا به پروت شا په تخته ئی

چی درمخ می شی مشرکه بیا به جاړی
سومنات کی به په چیغو دیوانه ئی

دهم هغه ابدالی احمد شاه زوی یم
لوګیانی ته به ورځم او ته به نه ئی

بَبَرخُولِی وحشی سیکه ته هم پوهه شه
که درتلم بیا به بیزار له ګورج واره ئی

ای یهوده لوئ نمرودئ زما دشمن ئی
خود دښمن د مصطفیٰ ئی زمانه ئی ؟

ما پخوالا پیژندلی ئی مکاره
که هر څومی په دوستی دوستی میلمه ئی

اسرائیلو فلسطین کی دی څه جوړ کړه
د مقدس دړ نګیدو پوخ اَبُرَهَه ئی

قتل عام دی په اَعرابو کی جوړ کړی
خونړی سیلاب دوینو سرچشمه ئی

مسلمان دی ټول په دار راکوړی کړی
زما دوست شوی؟ عجیبه غوندی لوده ئی

میا ګل صاحبزاده داسی ښکاریګی
چی په حق باندی نیشه او مستانه ئی

*** *** *** ****

دکتاب دلیکلو وجه

ما په شل ورځو کی دا کتاب تیار که
نه شاعر وم نه می مخکی دغه کار که

بس ناشد و ناروا وو زه مجبور کړم
چی شاعر شو مَه رسوا می هر غدار که

شاعري می تر پام سخته مسخره وه
ځکه ځینی مدار یانو دا گفتار که

څه چټیات پور او پرگندی شاعری وه
ددې وخت ځینی اشخاصو به دا کار که

تنها خال اوخت رباب به ئی ستایل
مجازی دمینی خر به ئی سرکار که

پخوانی حق شاعران له خلکو هیر شو
چی دانوې رنگ خمار خلکو اختیار که

تلامیذ د رحمٰن لاړه بل دوران شو
تلامیذ و د شیطان ځان سری کار که

شاعرې دځینی خلکوتش داړل دې
بدو ویل دې بې دلیله - ځان ئې خوارکه

او س داکاریوه جارحه آله بولی
په څو بېتو ئې ځان گل که بل ئې خارکه

راشه ماغوندی د حق ښکلی ډېوه شه
چی م ځان په حق ویلو خوار او زارکه

د ظاهر په وخت کی ماته وطن او روه
چی په حق باندې می هرچېری گفتارکه

له آسمانه چی بلا راکوز ېدله
مخامخ به ئې په ما باندې گزارکه

مدرسه د حنفی ماته تنور وه
چی می هلته سپک او ورک هر یوغدارکه

په جادو په مسجدو کی به لگیاوم
د دې نن خونکار سېلاب نه می انکارکه

په لسېه ابن سېنا کی زه وم گرانه
مسلمانو نه می لوی طوفان تیارکه

ملحدینو ته هر وخت مخ کی ولاړوم
هر هر ځای می ټول وطن ورته انگارکه

د سېدال په دښمنانو کی یوزه وم
علی آباد په پوهنتون کی مومردارکه

په گردیز کی چی استاد شوم عبدالحی کی
څه عجب ښکلی تحریک می راتیار که

سیما گل او گلاب گل زما یاران وه
مسلمان می په هر ځای کی رابیدار که

دادنن ورځی سرباز زما گل باز وه
چی می هلته په گردیز کی داسی یار که

په عالی دار معلم کی هغه زه وم
چی په هر خلقی کافر می مکتب زار که

حبیبه لیسه کی زما تحریک روان وه
هر طالب می لوی گړنگ دهر غدار که

د روسانو اول تندرچی راکوز شو
سور تنور می په ځان سمدستی گلزار که

د یارانو سره لاړم ځیل خانی ته
ځما یاران وه چی ئی سر په سر ددار که

پکتیا کی په رغو کی خړ سپیره وم
علماؤ سره ځان می چی پاسدار که

د هجرت پدې پریشانه خوار ماحول کی
ځان می ستړی د دعوت په کاروبار که

درې څلور سوه نخبه فضلا ټول شول
اتحاد ناری سوری وی ځان ئی زار که


PROPERTY OF ACKU 1941

څه کم دوه کاله موکور په کور زاري کړي
د ملت حق مو په ټولو باندې بار که

مگر چا سره ئې وکړه چې ونه شو
ځان ئې خپله رقیبانو ته اېسار که

نو به ستر افتخارات ستاسو نصیب وه
رهبرانو ځان مو تخم تا نه کار که

دې ملت دا شهامت به ستاسو شان وه
نن پرې وتو غدارانو ځان تیار که

چې ئې تش دا سلام نوم په خوله اخستی
مو د پوستو ډار اخستو ځان بیدار که

ظاهر شاه علماء رد کړه هسې شي شوه
کنډواله ئې نن زمونږ بنکلی گلزار که

مگر دا ملایان چې امیران دي
سمدلاسه ئې پیدا نوی رفتار که

علماء ئې په مخ ووه هل په شاه شول
خوار ملت ئې ټول خفه په خپل کردار که

زه هم هسې پې غلط شوم هلته لاړم
ځان مې هسې لوی گړنگ ته ور اېسار که

خو نن بیا د حق په لاره کې داعي یم
ځان مې بیا د حق په مینه کې خمار که

ځان ستایل می مطلب ندې په مضمون کی
دا می هسی په نعمت باندې اظهار که

بس همدغه می پکار وه دا می غوښتنه
چی می یار ته ځان په سپین مخ باندې یار که

د د نیا چوکی مقام می پکار نده
یو سړی یم که می ځان له د ینه ځار که

د چوکی او د مقام والا شه ډېر دې
نن ئی گورې هر پیاده ځان منصبدار که

چی پرون به په مارشو کی نڅا وه
نن ئی دلته په تنظیم کی لوې بادار که

میاگل صاحبزاده تر ټولو لوړ وه
چی ئی خاورې خپل صورت په غم دیار که



توحید

په لغت کې توحید یو بلَلَ د شی دې
چه قبول کړی هغه شی یک وتنها
شریعت کی بیا توحید یگانگی ده
دا قدس ذالجلال بی همتاء
چی به یو بولِ په ذات صفات افعالو
کی الله په خوله او زړه صفا صفاء
معنیٰ دا چی خدایؒ په دریو فقرو کی
لا شریک دې مثل نلرې رښتیاء
دالله د ذات په شانِ بل څه نشته
نه الله مثل او مانند دې د بل چاء
دالله صفات افعال مشابه ندې
د مخلوق سره په هیڅ شانی همتاء
د مخلوق صفات په شان دالله نه دې
رب له مثله له شو یکه مُبَرّاء
نه احتیاج دی نه زوال لری هیڅ کله
بی نیازه سبائی ده لره بقاء

هم آخر دې هم اول واجب وجود دې
هم حاضر ناظر په کل واړه اشیاء

قبل الکل او بعد الکل ېوازې دې دې
ېومِ دېن باندې به وی تنها بادشاه

ممکنات به همگی واړه فنا شی
وجه رَبّنا یبقی تر ابدا

وحده صورې وهی نظام شمس
کلهم به توحید یزدان گواه

راشی وگورې اتم په ساختمان کی
عجیبه عالی نظام لره دا راء

د هَستِ په شا او خوائی مدارونه
الکترون ورباندې چُرړی شا وخوا

جاذبه د پروتونو او نېوترونو ده
چی فرار کا بو کوی له هری خواء

دا تم دَ پاره دا نظم سبب دې
چی ساتلی ئی ده تل خپله بقاء

که ئی نظم شو ویجاړ برهم درهم
هغه دم به شی نابود تباه تباه

ځکه دا مادې جهان واړه ممکن دې
بی علته هستی نه منی اشناء

په هستی متصف کړی ذالجلال دَې
استمرار ددې جهان او ابتدا
عجیبه اسرار درب به تماشه کړی
که علمی وڅېړی کوکب او سماء
مشابه په یو رنګ ئی قوانین دی
او امر پوره کوې دَ خپل الله
که له هاې پارابولا یو اعشار ووزی
طوفانی به شی بېړی دد ی دنیاء
مګر تل ګورې په امر د خالق ج
منظم فصلونه وې ورځ او عشاء
دا همه واړه یو قدرت پیدا دی
چی علیم دې هم بصیر هم توانا
که (لَوْ كَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ) لوی
دغه نظم به فاسد وای خامخاء
په رښتیا چی (لَهُ الْمُلْكُ لَهُ الْحَمْدُ) دې
(وَحْدَهُ) دې (لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ)
میا ګل وائی هیڅ نشته بی له خدایه
دَ ممکن هستی موقوفه په الله



نعت شریف

تورہ شپہ وہ پہ عالم کی ظلم خپور وہ
هغہ چا ژوند کوی شو چی پکښ زور وہ

مظلومانو تہ حرامہ زندگی وہ
مقتدر ولرہ لوړ شرمندگی وہ

غریبانو خشول ژوندی بچیان
پہ الله ئی دروزئی نہ وو ایمان

مقتدر بہ وژلی خپلی نو نہ
کہ شی پیغلہ څوک راکړی پیغورونہ

یوہ ورځ چی وو امیر المؤمنین
پہ مجلس کی تری چار پیرو وصالحین

خلیفہ فاروق مسکی شو پہ خندا شو
ناڅاپی ئی او ښکی راغلی پہ ژړا شو

رفیقانو ئی دحال وکړہ پوښتنہ
لہ امیر المؤمنین نہ گریگنہ

نو حضرت عمر احوال کړلو بیان
چی رایادہ شو قصہ قبل الایمان

ېوه ورځ ښکارته روان شو څو کسان
له غذانه موجوړ کړی وه بتان
عبادت به موکا وه ددې بتانو
چې شو وږې ېو ېوو خوړ رفیقانو
داد جهل توره شپه شوله راپاده
دَ مُسکا دَ خندېدا وجه می داده
دې ساعت کی د جړا وجه می داوه
چې په وخت دَ جهالت پېشه له ماوه
ېوه لور می مراحقه وه په کور کی
هغه وخت ښه پهلوان ومه په زور کی
وسوسه راسره داوه تل مدام
چې به زوم راته پېغوروی صبح وشام
نوله کوره می بهر راوا ېستله
په هنر می د ماماکره بووله
شوه
راپیاد خپله لور په جهالت کی
راپیاد شوه هغه ورځ پدې ساعت کی
کفر شرک توره تیاره وه غوړه ولی
د حیوان په شان به ئی شځی وژلی
په کعبه کی د بتانو عبادت وه
هری خوا ظلم زیاتی چور او غارت وو

داسی توري ورځی ختمی کړی سبحان
په وجود د پیغمبر آخر زمان !!
خپل رحمت الله پېر زوکړ په عالم
لمر راوخوت جهالت شوتری تم
رَبُ مبعوث که محمدؐ آخر زمان
مصطفیٰؐ محمود احمد شاه شاهان
راغی شاهد، مبشر او نذیرا
سپینه ورځ شوه په سراج منیرا
مرحبا اې محمد ی مجتبیٰ
تاریکو لره مصباح کهف الورا
په کمال سره ئی بَلَغَ الْعَلَاُ
په جمال سره ئی کشف الدجیٰ
خصائل ئی واړه اَحْسَنَ الْحُسْنَا
صلی الله علیکَ یا نور الهدا
میا گل صاحب زاده کړی تمنّا
چی په مینه د رسول کی شی فناه



لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ

که بصر غواړي بېنا - کامیابي غوره اوللی
په وېنا شه داشنا ، لا إلـه الا الله!
لا اله الا الله - لا إله الا الله!!

راشه زده کړه پروازي سربازي په سربازي
په وزرو ددي عنقا - لا إلـه الا الله
لا إلـه إلا الله - لا إلـه الا الله

نا اشنا خای ته بالاشه - نا اشنا سره اشنا شه
په حرمت ددي رڼا - لا إلـه الا الله
لا إلـه إلا الله - لا إلـه الله!

راشه راشه با ایمان شه - هر فرعون لره گویان شه
ورته وایه برالا - لا إلـه الا الله
لا إلـه الا الله - لا إلـه الله!

وحدانیت ده دالله هر نمرود سره غزاء
هر طاغوت لره وبا - لا إلـه الا الله
لا إلـه الا الله - لا إلـه الا الله

په ظاهر څومره صفا ده په باطن دومره علیا ده
مسلمان ده پرې بینا لا اِلـه الا الله
لا اِلـه الا الله - لا الـه الا الله

په ایمان کی غوره څانګه - په اسلام کی غوره پانګه
لوې شعار ده په رښتیا - لا اِلـه الا الله
لا اِلـه الا الله - لا الـه الا الله

لوې سیقل ده د باطن - ده د عرش متوطن
لوې حصار ده د الله - لا اِلـه الا الله
لا اِلـه الا الله - لا اِلـه الا الله

دا په هر عمل اولاده - ځکه دین کی اصل داده
دا رښتیا ده په رښتیا - لا الـه اِلا الله
لا الـه الا الله - لا اِلـه الا الله

په جهاد کی دا بری ده - چی دا نوی خودلری ده
جهاد دَهٔ دَدِیْ اعلا - لا اِلـه الا الله
لا اِلـه الا الله - لا الـه الا الله

دا ښکاره نفیه واثبات ده - دا سویات - اثبات اثبات ده
دا ذکار و ده پادشاه لا الـه الا الله
لا اِلـه الا الله - لا الـه الا الله

لطائف پی جاری کیږي - قلب له قلبه صفا کیږي
نور په نور شی معلا لا الـه الا الله
لا الـه الا الله - لا الـه الا الله

که هر څو سړی نېشه وی او باطن ئی خوار خسته وی
دا دوا ده دا شفاء - لا اله الا الله
لا اله الا الله - لا اله الا الله

دا رجیم ده د شیطان ځینی تشتی ابلیسان !!
ځان کندن کی ده عصا - لا اله الا الله
لا اله الا الله - لا اله الا الله

دا آخری کامیابی ده که دا نوی نوشقی ده
راشه وایه دا یه دا - لا اله الا الله
لا اله الا الله - لا اله الا الله

که کافر او یا کلن شی او اخر پدی مئین شی
ورته عفوه ده گناه - لا اله الا الله
لا اله الا الله - لا اله الا الله

په همدی باندی اسلام ده په همدی باندی ایمان ده
دا هم دین ده هم دنیا - لا اله الا الله
لا اله الا الله - لا اله الا الله

موسی عرض وکه الله ته د دعا غوښتو مولا ته
الله وی ورته بیا بیا لا اله الا الله
لا اله الا الله - لا اله الا الله

الله وښوده کلیم ته - عالی غوره وِرُدُ سلیم ته
وئیلی وایه ای موسی لا اله الا الله
لا اله الا الله - لا اله الله.

که اسمان او محکی ہوخوا۔ لااله وتلی بل خوا
وی به بها وزمینه خوا۔ لااِلـه الاالله
لااِلـه إلاالله ۔ لااِلـه الاالله
مباگک صاحبزاده۔ وایه ستاپه کلیمه
دا دی شان دکه پسه مقبلی۔ لااله الا الله
لااله الاالله ۔ لااِله الاالله۔

* * * \

په خوب کی د مصطفیؐ ملاقات

یوه شپه ډیر پریشانه وم وېده!
عجیبه غوره خوبونه می لیده
په لوګر کی په سړک عالم قطار وې
مصطفیؐ خیر البشر ته انتظار وې
هری خوا ته فعالیت کوی فرځیان
یو سکوت وې په ادب وی هر انسان
زما زړه له خوشحالئ غورزی نڅیګی
وار خطا می له لیمو او ښکی څڅیګی
دَ وصال خوه ګی لحظی دی زه ژړیګم
په فراق کی ولی نه مرم پاته کیګم
باید مړ وای په فراق د مصطفیؐ کی
یا می سر وای سینه چاک دشت او صحرا کی
یا ملنګ وای لنګ وهلی د درګاه
او ښکی وینی ژړ یدی صبا بیګاه
راشه وا وره عجب بخت وه خدای را کړې
د محبوب د یدار ته خدای وم ور بللی
غُلغُله شوه شور اَوَر زوګ شو په عالم کی
هر چا ولیده محبوب د ستر ګونم کی

تل درود صلوة سلام اې مجتبیٰ
ستا حضور ته عرض کوم نور الهداء

په سرک کی راروان خیر البشر وه
په انوار وئی جهان تهول منور وه

نازنین بشر می ولیده په سترګو
لا د نفس یم نوکر ړوند شم په غبرګو

د جمال حسن ئے څه وکړم بیان
زه عاجز او قلم دواړه یو ناتوان

د حضور شاته روان څلور کسان وو
څلور واړه زمونږ ملګری شهیدان وو

یَوَهْ وَهْ پاس په رسول لَوْحَه نیولی
قُلْهُ وَاللّٰهُ سنګلی سنګلی پی لیکلی

عجیبه روشانه لیک وه ځلیده
په لیدو به ئی لیدونکی خوښی ده

بل نفر شی خوا نیولی وه لوحه
مبارک سنګلی یاسین پی نوشته

چپی خواته ئی لَوْحَه وَه عَالی غوره
پری لیکلی تَبَارَکْ وَهْ معتبره

د څنګو سنګلی لوحی تر څنګنو وې
بی مثاله ننداری د دې نور وو وې

مصطفیٰ ﷺ وه په چوکاټ کی ننداره وه
لکه گل پری احاطه هره صوره وه

خاموشی وه ټول ولاړ وه په ادب
بی ادبه د رسول دی وی وَطَبُ

بی اختیاره لولپه کړم اور د مینی
سور انگار جیگر سوخته کړم اور د مینی

په گرداب د تصور کی ورگذار شوم!
نه ز منصور شوم برالا په سر د دار شوم

افزین چی په دې هسی درجا تو!
سم نیم نه شوم پدی هسی کراماتو

داد عشق په ژبه یاد دی شکرانی ده
داسی نه چی پدې حال ځای دگیلی ده

هغه وخت به می ارمان واې پوره شواې
چه په مینه د جانان واې رسوا شوې

لیونی واې گرځید اې په دښتو شاړو
د جانان په تصور کی په کوکارو

صحرانی واې هسی سر په اُوتُو بُو تو
د یار نوم می یاد ولاې شه په زَوتو

دغه اور د مینے لا واې تازه شواې
سور انگار پریږده چی ټول وای ایری شوای

خوزه خوارواې درسول د درګدا
همیشه واې پدې مینه مبتلا!
خداونده مياه ګل صاحب زاده
ستا دوست په مینه سُوَزِې همیشه



دجّال ئی خوار اوزار که

عجیبه ځوان وگوره گل د ریحان وگوره
غازی جانان وگوره
په زیکویک باندی ولاړ دی دښمن تښتی له میدانه
قربان له داسی ځوانه
دَجال ئی خوار اوزار که
په دښمن اور لگوی چی غازیان زور لگوی
په کی لیوان سوه زوی
تور ې لوخړې جوړ محشرده له غړمبانه
قربان له داسی ځوانه
دَجال ئی خوار اوزار که
په وینو رنگ بختور په قران سوی ځگر
عالم پی شو منور!

سرئې پرې کېشوده ویاړلی مظلومان شول په آمانه
قربان له داسی ځوانه
دَجال ئی خوار او زارکه

نن په قران غزاده !!!! د خدای د دین اعلاده
وطن کربوه بلا ده
د مېنی اور راپارېدلی پرې توئېږی پتنگانه
قربان له داسی ځوانه
دَجال ئی خوار او زارکه

شول افغانان فاتحان نن شو راویښ مسلمان
نړېوال پاته حیران
تورې دې ځارشمه پرکېگی د ښمن مړشوله غوغانه
قربان له داسی ځوانه
دَجال ئی خوار اوزارکه

نن پُرزِېدَلِی شورویان دې په شاکېدونکی طاغوتیان دې
چی راویښ شوې مسلمان دی
صاحب زاده باندی اخترده اوس بروزی بخارانه
قربان له داسی ځوانه
دَجال ئی خوار اوزارکه

★★★★★★★★★★★★★★

د ظاهر شاه په زمانه کی د ملحد و پالتیو غوبل

عجیبه وختونه تیر شول په وطن کی
عجیبه نیشه ځوانان وه په میهن کی

د ظاهر د سلطنت په زمانه کی
د پالتیو تماشه وه په جاوه کی

څه کسان د کمونزم غلامان وه
څه کسان بی طرفان څه مسلمان وه

معرکه وه حق باطل جدا کیدلو
توره شپه وه عام الناس نه پوهیدلو

مدارس که پاکولتی که مامورین وه
مکتبیان که استادان که پوه ددین وه

اخ او ډ ب وه هر هر ځای لویه میله وه
هر هر ځای د حق باطل مقابله وه

بېره غونه شعارونه رنګ په رنګ وه
هر رقیب د بل د پاره لوی ګړنګ وه
تنظیمونه وه حِزبونَه وه لوی کار وه
علنی د ملحدینو کارو بار وه
پالتمی ګانی وی لوی لاس د استعمار وه
هر تنظیم به غوړولی لوی بازار وه
خصوصاً کابل د ټولو مرکزیت وه
هر ورځ به غال مغال وه مزمت وه
هر ورځ به مارش او یا مظاهری وې
بېرغونه شعارونه وه میلی وې
جزبیات وه کفریات وه بی دینی وه
دې کافرو تنظیمو ته پادشاهی وه
خلق پرچم شعله بیا لوی کفری کسان وه
لوی ډلی وې د لوې طاغوت پلان وه
خلق پرچم سوسیالستان دروس کسان وه
شعله یان کمونستان دَچین پلان وه
دوی نه وروسته مساوات غټه پالتمی وه
میرندوال د دوې رهبر وه بس غَرْبِي وه
دې پالتې دیموکراسی دعوه کوله
غرب له خوا ئی حمایه وه په مخ تله له

دا یوازی سیاسی دیموکراسان وه
عقیده کی زما په خیال چی مسلمان وه

بل ستم غرندی تورتم یو پالتی وه
ملحدین کمونستان وه خو چینی وه

دا پالتی د فارسی ژ بی مدعیان وه
د پښتون او پشتو ژبی دشمنان وه

دا خو دوئ په خوله دعوه کوله یاره
اصل سخت کافر ملحد دی ریاکاره

ستمیان سمت شمال کی د وطن وه
ټول قوت لی بس یوازی قطغن وه

لیډر شپ دوی طاهر بدخشی وه
بحرالدین باعث ئی شکته واړه سپی وه

نور محمد ترکی بیا د خلق لیډر وه
دوهم کس حفیظ الله کافر سوډر وه

یو ئی وه ډاکټر زرغون د خوست د خوا
بیا تری بیل شو یک زرغون د پکتیا

ترکی وه د غزنی د ناوی کلی
او امین بیا د پغمان وه مخ تو کلی

ببرک هلته د پرچم مرتد لیډر وه
حسین خیل د کمریو د کابل وه

بل خیبر وه څناور وه لوې کافر وه
سلیمان لایق ئې بل د دجال خر وه
بل افغان ملت یو کوند وه سرخوړلی
نشلست افغان دشمن وه بد لړلی

د هیټ لر جهان سوزه پیروان دې
په باطن کی د پر دو یو نوکران دې
دا هم دوه ډلی شوې مخکی وخت کی وروره
یو ملت بل ئې افغان ملت شوه گوره

دوئ هم ځان بولی مسلم په عقیده کی
اقتحاٌ غواړې پَرَدَیْ په جامعه کی
وائی دین د حاکمیت سره څه کار ده
دین خو اصل تش جومات سره پکار ده

دین کافی نده ټولنی ته نن ورځ
نوې نوې اقتصاد وی ورځ په ورځ
بل داوَد ملی خور زنگ جوړکه وطن کی
سره لیوان ئې سره یو ځای کړه میهن کی

ده وی دا به زما دلاس یو اله وې
وه غافل چې دا به ما ته زَوُلانه وې
څه غټ خیټې پی راټول شول ښاماران
اکثراً پکی شامل شول بد خلقیان

هسی اور ئی ځانته بل که کی بریان شو
شازادگان ئی نازولی په گریان شو

هیا هوې وه په کابل کی په اطراف کی
ستر غوبل وه جذبیات وه په دسلاف کی

زرنگار کی به جوړ شوې غوائی منډ وه
کابل نه وه بس دسرو وینو یو ډند وه

په اسلام به لگیدل واړه کفار
دین مذهب ته غپیدل واړه غدار

هر هر چیری به ډرامی وې جوړیدلی
د اسلام په سپکاوې تیاریدلی

په لمانځه پورې ملنډې مسخرې وې
په دنیات باند ټکالی وی نخری وې

اولیاؤ ته شکنځلی وې کیدلی
علماوو به ډرامی تیار نیدلی

د الله د عظمت څخه منکر وه
ابلیسانو ته طاغوت ته مسخر وه

مکتبو کی د الحاد تدریس روان وه
حکومت کی غټ غټ خلق بی دینان وه

په لیلیه د پوهنتون کی دې کفار و
قران لاندې ځای ته واچوه غدارو

په لېنېن ئې درود ووې په اخبار کې
هم توهين د مصطفیٰ وشوه دې لار کې

په نامه (د نه زنه مرد) توهين وشوه
سپکا وې په رټا ورځ کې ددين وشوه

خو بيا هم مسلمانان را بيدار نه شوه
که بيدار شوه سوراوشين د چاځان نه شوه

ملحدين مرتد کسان که وه زرگونه
خو بولی مسلمان وه ملېونونه

د غفلت دا نتيجه وې راشه گوره
کروړو خلق اواره وې راشه گوره

چې اوس هم له خوبه نه پاڅېگی ځوانه
دا نو څرنگ خدای سره ئې مسلمانه

مېا گل صاحبزاده خدای ته زارې کړه
چې راوېښ شي مسلمان بيا سردارې کړه

لو يه خدايه ته راوېښ کړے مسلمان
مېا گل ته ورپوره کړه دا آرمان

ای غداره نابکاره خلاص به نشی

ای غداره نابکاره خلاص به نشی
ای روسیه ظلم کاره خلاص به نشی

پاریدلی در پسی افغان ولس ده -
کریملن ته شوی ښاماره خلاص به نشی

نن دې هغه فوشالی جوسد نبکاره شوه
په ټانګونو کی ایساره خلاص به نشی

زور قوت دی همګی واړه تمام کړه
داولس شوخ په تینګاره خلاص به نشی

که هر څو سور شو اخون قتلان شروع کړی
پا ډیر فوځ راشی خونخواره خلاص به نشی

داد صبر د ټیګار دارو درمل دی
چی رسوا شوی نړی خواره خلاص به نشی

نرمی مه بولی په مخ می لاړی تو کړی
که په شا شوم له ګذره خلاص به نشی

خامخا به دې په لس کی ګونډی ږدمه
زه مومن یم ګوره ماره خلاص به نشی

داتور مخ به دې بر سنډ کړمه دنیا ته
لوڅ به شی سره استعماره خلاص به نشی

دبی وزلو انتقام به درنه واخلم
نن دې وار راغی خونخواره خلاص به نشی

دغه اوس مستعمرات بدی میرات شی
زه مسلم شرمه بیداره خلاص به نشی

چی دې پرېږدم کریملین کی نربه نه یم
پرزیدلی ئی غداره خلاص به نشی

چی پرون پشانه تلونکی وی ملحده
نن په شا تښتی له یاره خلاص به نشی

چی فرعون د زمانی ته کلیم نه شم
بیا می مه بوله تا مداره خلاص به نشی

چی له ماسره په سر وهی ډغرې .
اوس بیا مه کوه کوکاری خلاص به نشی

اوس د ملحی ده جوړ نښت سازونه وائی
چی خزان دی که گلزاره خلاص به نشی

زه میاگل صاحب زاده به ځان قربان کړم
سر به کیږدم پدی لاره خلاص به نشی

دخلقیانو په ځیل کی د ستر کولیدلی حال

زه میا گل صاحب زاده غواړم بیا نکړم
د مجبس ستر کولیدلی حال عیا نکړم

زه ۱۸ میاشتی وم بندی خانه کی
د ترکی دامین په ځیل خانه کی

په اول چی گرفتار کړمه خلقیانو
د اختر په ورځو بوتلم غدارانو

خادستانو کړم ایسار یوه تشناب کی
دغه شپه راباندی تیره شوه عذاب کی

په صباح ئی پلستر کړو زما لیمو
ما بالکل د شهادت گمان کاوه

ماوے اوس به دالله خواته ورځمه
د دنیا له ستړیو ستونځو شوم بی غمه

کله ستر گو ته به راغله مور او پلار
ترینه غوښت به می رخصت په لورددار

بیا به لاړم کربلا ظلم او تاړاک ته
په افغان کی سړی خوره سره ښکیدلاک ته

په سوچو سوچو ئی راوړمه دفاع ته
یو اطاق کی ئی بندی کړمه یو خوا ته

نو په شپه کی راته راغله جلادان
څلور کسه خون اشامه خادستان

ویرتا ړاک غوغا شروع شوه په بندیانو
سرتر پشو وینی جاری وی په خوارانو

برق دنډی وهل ټوکل ووتر سهاره
شو اخون ووټوله شپه وه ناقراره

شپژ شپی سرو لمبو کی تیر شولو تحقیق
سرنو نښت مو په گرداب کی شو عمیق

وروستو بیا پلی چرخی ته انتقال شو
دلته لا په سختو سختو گرفتار شو

له اطاقه چه قضا د پاره تللو
ماسلانو هر قدم تعقیبو لو

یوله بله نږدی نه شوای درید لای
د سلام ځواب مو نه شوای ورکولای

مهر ولاک خوله به حاجت د پاره تللو
په تلوار تلوار به بیا راگرځیدلو

ډیر په سخته مو نوبت راتلو بهر ته
یوه دوه شپی هم وتی نه شوای ډگر ته

د غسلو او اودسو اجازه نه وه
گرځیدو او لمرکتو اجازه نه وه

تیمامه سره مولمونځ ادا کو لو!
په هیڅ شانِ مجال نه وه د منځلو
د خالی ځواب کوزی وی د بند یانو
بهر تللو وخت به خالی کړی غریبانو
یوه ورځ پنځه نفره رابهر شو
مهربان راباندې هغه دم عسکر شو
د قضا د پاره لاړو بارکوته
په میدان کښی د لرګیو تشنا بوته
زه له ټولو نه ړومبی شومه بهر
په امید د او داسه دغه سهر
څو ملګری ټولمیده ما اودس وکړو
پدی ورځ می پد اشانی هوس اوکړو
ما پشی نه وی منځلی ټول راټول شول
عسکریان متوجه زما په لور شول
پوچ او فحش ئی راته یاد کړه ځنا ورو
هری خوانه ئی ویشتلم په ډبرو
ځای په ځای ئی په خپل ځان پورے حیران کړم
په وهلو او ښکنځلو ئی ناتوان کړم
افتابه ئی رانه واخسته عسکرو
نور اطاق ته ئی داخل کړم په ډغرو

په کوټو کی هم فشار او اختناق وو
جاسوسان وظیفه دار په هر اطاق وو
له یوی بستری بلی ته تلی نه شوای
دوه بندیان ښکاره عیان غږیدای نه شوای
دقضا حاجت ته تګ ډیر مشکلات وو
هر اطاق کی له اتیا نفرو زیات وو
میان ګل صاحبزاده وائی خاونده
ستا په پاک قرآن می تل لری پابنده

* * * * * * * * * * * *

یوه ورځ عجیبه ټوکه وه یارانو
دَ ظلمونو یوه قصه د غدارانو
له سهاره تر بیګا کوټه قلپی شوو
د قضا دلاسه تنګ هر یو بندی شوو
یو سپین ږیری له معدی نه شو پری شانه
دَ قضا حاجت دلاسه وو حیرانه
سر تر پایه په خولو کی جپ او چوپ وو
د تکلیف دلاسه سم په ملا کوپ وو
ټولو خولی په زارو ستړی کړی عسکر ته
که مریض ته اجازه ورکړی بهر ته
خو مریض په هغه ځائی شو بی حجابه
بی خودی سره لاهو شو په ګردابه

غمخواره وو دغریبو طبقا تو!
طرفدار وو دبی وزلو ورستبپاتو
په مجلس کی قومندان وه یو خَلْقیْ
عبد الله بلل کیده خروړی سَپَیْ
بی غیرته بی ایمانه جوړ لیوه وه
بی شرفه بی وجدانه لوی ډاکو وه
هره شپه به قومندان سید عبدالله
اطاقو ته په هیبت راغی بیگاه
غوریکَ شکنځلی به ئی هرچا ته کولی
ناروا پوچ او پرگندی به ئی ویلیْ
په لغتو په بکسو به ئی وهل
ټول بندیان به ئی همسی ربړول
په چڼیاتو به ئی سروه ناروا!
په بندیانو به ئی وی (هورا هورا)
یو سړی مرپه اطاق کی لیونی شوو
له خفگانه له غصی نه سحرانی شوو
څوک ئی نه پریشوده خوب ته دی پاگل
خوبولی ئی په هرهرشی ویشتل
ویریدوچی څوک ئی مړه نه شی له لاسه
شپه او ورځ ئی موضوب نه وو له وسواسه

څو شېشی ئی د اطاق کړلی مېد ه
هغه وروسته ئی له مونږ نه که گوشه
تر هغه ئی ټول بندیان پی زو رول
ټول بندیان ئی پدِی کس آزاد رول
بختور شخصیتونه وو بندیان
په سلاؤ اولیاؤ شول شهیدان
نیمه شپه به مسلح راغله کوټی ته
لکه سره لیوان چی ځان جوړ کړی غوټی ته
کریه غږ به ئی اوچت کړ ځنا ورو
په بدکومی به ناری کړی خنا ځیرو
وار خطا وحشت زده به شول بندیان
یو ناڅاپه به راپورته شول خواران
هر سړی به خپل نامه ته انتظار وو
شیرین زړه به ئی گوگل کی ناقرار وو
هر سړی به انتظار دَ شهادت وو
دَ قرعی په انتظار به هر ساعت وو
لوی لستونه ورسره بندیان به ئی بیل کړه
هر اطاق نه به ئی ډیر کسان غل بیل کړه
شپی له خوا بول بول وو پولِ گُنُ تَه
قصابی وه خشول وو ځیگر خون ته

پو طرفته به ځوانان جدا کېدل
قربانی ته شهادت ته جوړ ېدل
رفیقانو ته به ئی پورته کړل لاسونه
قربان گاه ته به ئی غوشته رُخْصتونه
توره شپه کښ به روان شول مؤمنان
شا اوخوا به ترے چاپېرو وسره لېوان
په غمزو غمزو بی شاته راکتل
اشاره به ئی ملگری پوه کول
که زُما کورته احوال ولېږی وروره
اطمنیان د شهادت ورکړی گوره
چه له مانه زړونه صبر کړی خپلوان
ما په مرگ باندې حساب کی عزیزان
هره ورځ به د بندیانو دا مذکوروو
یو په بل بی امانت دغه ضروروو
چی که زه دَ شپی روان شوم پلی گون ته
زما کورته اطمینان ورکړه بیرون ته
پا ېوازی په ورځ به راغلله رقعه
په محبس کی به هرخواته گرځیده
د ملگرو به ئی زړه قلم قلم شوو
په اطاق کی به ئی هری خوا ماتم شوو

نوعسکر به رقعه بېرته وايستله
اقربا وو تسلی کله کوله
څوڅو وارے به پای وازراغی بهر
لا درک به وو تری خپل نورالبصر
میا گله عجب خوند د کړ يو
دَخدای مينه لو به وه دککر يو

***** *********

زمونږ اطاق کښی يو ملا وو باعزته
با ايمانه باوقاره با جرئته!
خوقصه ددی ملا می زوروی تل
ميان گل صاحب زاده ئی يادوی تل
زما بستر سره نږدی زما رفيق وو
ښه غښتلی مجاهد او ښه چريک وو
دی په اصل دکنړ وو په وطن کی
وظيفه ئی درلودله قطغن کی
ده وی زما يوه سيا سره ماشومان وو
اطرافی بی خولی بی ژبی عاجزان وو
دغه وخت دهغے حمل رانږدی وه
زما طبر بی خولی بی ژبی بی هيلی وه
نه دستيار وو نه غم خوار وو بی له خدايه
څکه ژاړم چه رايا ده شی له ورايه

خپلوان زما په کور باندی خبر وو
لری ملک جلاوطنه مسافر وو
یو ناڅاپه ئی زه راوستم خلقیانو
آه افسوس څرنګ به مړه یاست زما بچیانو
په دیار دبی کسی مسافری کی
څنګه مړه به مظلومان وی په خواری کی
ستاسی غږ فریاد به چا وی اوریدلی
نامحرم به زما په کور وی ګرځیدلی
په دی ورځو چی نفسی نفسی ناری دی
د اسمان لمنی بیا په وینو سری دی
هر سړی په خپلو وینو کی خوټیږی
هری خوا کی فریادونه پورته کیږی
هغه وخت به مِ ارمان په دنیا نه وی
چی له خپلو یو سړی له ماسره وی
یا می اوس دغه اوازوای اوریدلی!
چی وطن نه یو سړی وای ورغلی
یا می اوس تر غوږه شوی آوازه وای
چی طبری د خپلوانو سره مړه وای
نه پوهیږم زما ګرانو فرزندانو
وږیو تږیو بی پرسانه فرزندانو

څومره وختا بہ انتظاروی دروازی ته
خوارکی بابا جوگہ شو ځیل خانی ته
وارخطا مورکی بہ څنگ چو بولی
زړه قطرې بہ ئی پہ څه قرار ولی
پہ بابا بابا بہ ستا سو سا خَتَلَهٗ
بوره مور بہ درنہ څنگه تاوېدله
تر اخره څوک رانغله له وطنه
چی ددی بی چاره زړه وای پری بی غمه
پہ اخرکی ئی شهید که جلا دانو
خدای خبر دده په کور او ماشومانو
میان گل وائی داټول ستر افتخارده
عاشقی گوره د سر باېله لوکارده

*** ******* ******

ېوه قصه بہ خندا وره درته وکړم
پریشانه زخمی زړه بہ دی پری شه کړم
ېو بندی زما شاگرد قصه کوله
دنېولو ئی قصه بیا نو له
پہ تحقیق کی سور پہ وېنو کړم خلقیانو
وېلی وشیه ملگری خادستانو
مجبوراً می قلم داد کړه ېوه نامه
جان محمد باندی مرجوړه کړه بهانه

بس پہ دروغو می پہ گوتہ شہر نَوْکہ
ټول وجود می لہ وهلو ځینی نَوْکہ

شهر نو ئی لټ پہ لټ وو خادستا ن
جان محمد ئی پیدا نہ وو جلادانو

راغلہ زہ ئی پہ موټر کی واخستَلَمْ
شهر نو تہ ئی لہ ځان سرہ بوتللَمْ

ما وروشود ہ لہ ځانہ سنګلی کو ر
یو هلک ئی راووستہ ځینی پہ زور

پہ وهلو پہ توکلو ئی شین مین کہ
څوتری جوړ کی جان محمد واړہ شینی کہ

دی هلک بہ وی دَ خدای دَ پارہ گرانو
زہ جاوید یم جان محمد نہ یم خلقیانو

زہ مامور یم محصل نہ یم ځوانا نو
لاړشئ و پوشتی د فتر مستنطقانو

خادستانو وی چی دا سخت اخوانی دہ
پټوی ځان تورہ تیګہ فرنګی دہ

نو بی واچا وہ دښتو لاندی خوار
ویلی کړم بہ جان محمد درنہ تیار

ووا یہ چی جان محمد ئی اوکہ نہ ئی
مونږ هم یو خلقی ځوانان تہ څنګہ نہ ئی

دری څلورشپی ئی نښه که خاستانو
تا روائی قیل پانه که سرولیوا نو
په اخز ئی اوی بندی ته یاد که
هغه وئی ماله ایری قلم واکه که
زه دانه پیژنم خدای لرم خلقیانو
مجبوراً می درپه گوته که یارانو
دخلقیانوله خولی پوچی را او خَتِی
شی پخی پخی ئی راکړلی لغَتِی
جاوید خان ته ئی ووی ورورہ بَخشِئی
پوشتی ماتی لغوړن شو په یو بَخشِئی
تاخو جوړکه میاگله حکایت
گوندی وروڼو ته سبب شی دعبرت

★★★★★★★★★★★★★★

د داود دوخت بندیان وډپرکسان
په دوهم بلاک ووزمونږ یاران
په اول منزل کی لاندی واړه دوی وه
علما محصین په هرشی پوی وو
شپه او ورځ به ئی کول ملاوتونه
له پخوانه دوی سره ووکنا بونه
لږ آزاد وو نسبتاً په گرځید وکی
په تدریس په کشناستو ولاړید وکی

مگر نوی بندیان سخت له دوی نه بند وو
بیل پلان پروگرام ئی بند په بند وو
دَ امین د اقتدار په زمانه کی
واړه لاړه شهیدان شو ځیل خانه کی
ورته راغله غداران چی تاسو بیا یو
آزادی او ارامی تاسو ته شا یو
بستری کالی مو پریږدی دغه ځای کی
تنها تاسو بر په ځای کړو په بل ځای کی
بستر و کالو ته نشته ضرورت
مونږه تاسو ته سمبال دی ښه عزت
دوئ شه پوه وُه چی داوړ ځ مود سفر ده!
شهادت خدای ته ورتله مونږ ته اختر ده
سره کښنا سته په خپلو کی گلان!
اتفاق سره ئی جوړ که دا پلان
یو رفیق ئی قومندان آمر تعین که
دَ غَزَا د قربانی نِیلَی ئی زین که
چی که ئی تړلی زمونږ ستر گی لاسونه
اتفاق سره حمله ده خپل وس کونه
په جگړه کی شهادت ستر شرافت دے
مخامخ په جنگ کی مرگ لوی شهادت دے

هم غازیان هم شهیدان به یو سر لوړی
د ښه غوره ده چی وم تړی په پړی
شی صفا جامی ئی واغوستی ځوانانو
ښه ځانونه ئی سمبال کړه رفیقانو
غوړول ئی توري گیری تور زلفان
په رنجو ئی آراسته کړه خپل چشمان
په مسکا سره ئی غوښته رخصتونه
خدای مینو ته ئی ویلی سلامونه
دوي وي مونږ که ایمان تیر که درسره یو
هر سنگر کی به روحا ستاسو میلمه یو
د الله د ملاقات هوس خندا وه
په مَلکُو منوره قربان گاه وه
جنتو کی د حورانو تماشه وه
اسمانو کی د ملکو نندا ره وه
ابراهیم خلیل الله کاته دی خواته
اسماعیل راغے زبیح دی تماشاته
حسنین خپلو بچو ته په خندا وه
انتظار د میلمنو زمونږ اقا وه
کربلا ستر امتحان دلته تکرار شو
د حسین شاگردان بیا په سر د دار شو

دماښام سره بهر شو له بلاکه
لړزېده په درزه هار وه افلاکه

په مېدان کی ئی ترې جوړ کړه قطارونه
غوښت ئی وتړی ددوې سترگی لاسونه

قومندان ئی د تکبیر اواز او چت که
شور او زوگ شو بس ترشائی مظلومیت که

مخاخ ئی په دښمن اوکړه حمله
څوک قربان شو چا ترلاسه کړه وسله

درزه هار او غړمبهار وه په محبس کی
سره اورونه پړقار وو په جرس کی

ترنېمگئ شپی ټول محبس په درزید اوه
په ماتم پاتی منگری مبتلا وه

پنجری ورونه کل واړه مهر اولاک وه
کربلا وه په محبس کی سورتاړاک وه

خبر لاړ شو قوه چار زری دار ته
زری دار راغله حیران وغړمبهار ته

د ټانگو په دهشکوئ شهیدان کړه
سل نفره ئی تباه دانشمندان کړه

خون خورودغه گلشن که ټول خزان
شهیدان ئی کړه پوهان دانشمندان

سرمایه دَ جامعی دانشمندان وی
ارتقاد ولسونو شاه زلمیان وی
خامخواه به کنډ واله افغانستان وی
چی واکمن ئی سره لیوان کمونستان وی
څونفره ئی بلاک ته راستانه کړه
چی جګړه شوله موټره ئی کوز نه کړه
څلور ورځی په بلاک کی صالحین وو
انتظار دَ شهادت ورونه شیرین وو
دوئ هم خپلو کی داوکه مصلحت
چی به مونږ هم باید وکاندو غیرت
پنځه زره افغانی دی محزرو
یو چاقو پنهان پیدا کړله عسکرو

شه عالم د شرعیاتو محصل وو
سید اکبر شهید پدوی کی بهادر وو
چاقو واخست سید اکبر له رفیقانو
ځان ئی جوړ مجاهدی ته که یارانو
عبدالله حیث چی راغی دوی ته بیا
غوښت ئی یو یو مرګ ته بوزی هویدا
سید اکبر تکبیر ګویان حمله پی وکړه
عبدالله بهر ته تیښته منډه اوکړه

سید اکبر شاه شاهان وو ور پسی
قومندان باډ یګردان وکړی صوری

عمومی وره ته نږدې ئی را ایسار که
قومندان خبیث ئی سورئ سوری خوار اوزار که

وه اته خاپه ئی وواهه چا قو!
نړ یده لاندی له ده نه رمیړو

سید اکبر دوست د اکبر وکړه غزا
لوی طاغوت ئی رانسکور که برالا

منتقم وو د بی وزلو د جړا
شو فرعون د زمانے لره موسی

دوست د خدای نور د هلیزه ته شوروان
د عسکر نه ئی توپک واخست عیان

چی ماشینه ئی پیدا کړه رابهر شو
په خلقیانو عسکریانو حمله ور شو!

دوه دری ساعته ئی شدیده جګړه وکړه
په رښتیا ئی د خلقیانو چاره وکړه

ډیر مردار شو ملحدین پاخه خلقیان
په امان شو مظلومان بی نوایان

شهادت جام نوښ جان که سید اکبر
مخامخ لاړه جنت ته برابر

په زرګونو ټپر ښتی ئې استقبال ته
شوی راکوز چې روح ئې ورسید کمال ته

په هر حال شپاږس نفره شهیدان شول
پخوانی د خدای دوستان وارثه تمام شول

خو دوې د قربانی په نتیجه کی
ازادې شوه ارامی شوځیدل خانه کی

همیشه د روزی وازی دکوټو وې
خوشحالی دګرځیدو او د غسلو وی

په ما بس کی نوې رانغی قومندان
تلویزون اخبار ئی راوړلو هیڅ ان

په بندیانو نوی راغله زندګی
جمعی لمونځ شو په اختیار شوه بندګی

مهال ګل صاحبزاده قصه بیانکړه
تاریخچه ئی د ظلمونو نمایانکړه

★·★-★·★·★·★·★·★·★·★·★·★·★·★

دداودخان کړووړوته لنډه کتنه

داوت خان غونښته په موسته داوروس
اقتدار راوړی پلاس دغه ټپوس
عسکری امورئ کم کړه له ترکانو
مشاورئ راوستل له اوروسانو
نظامی رازئ افشاکړ (K.G.B) ته
منصب دارئ په تعلیم لاړ شوروی ته
کمونست پالټی ئ راوسته وطن ته
دفساد نښټ ئ کیشوده میهن ته
مکتبو کی ئ لادین تحریک شروع کړه
هلکان ئ منحرف بی عقیدو کړه۔
څو پدی شکل ظاهر له تخته گوز کړی
پادشاهی ځانته پیدا پدی رموز کړی
هم ئ یاد په تاریخو کی شخصیت شی ۔
افتخار ئ دقومو په لوړ همت شی
کړی سرکوب هغه چی ده ته درد سروی
که مسلم دی که هندو وې که کافر وې
په اخر کی بیا په خپلو همرزمانو
خیټه واچوی پدی کمونستانو
ځان په داک او اقتدار کی یک تنها کړی
د جمال عبدالناصر مشی روا کړی
سلطنت دجمهوریت په نامه جوړ کړی
آزادې د بیان تل خفه نسکور کړی

هم باے دد یمو کراس نظام مشهور شی
هم بانی د ترقی ورد قبول شی

هم په اصل کی ټولواک دې په وطن کی
هم نصیب ټوله نا فه کړی په ختن کی

په همدې مشی کامیاب شو په ظاهر
په نصیب ئی شو کل واړه مظاهر

په کهمک داوروسی ئی کړه نسکوره
پادشاهی په ظاهر شاه د ټانګ په زوره

کودتا ئی خپل د تره زوی باندی وکړه
تار په تار ئی پادشاهی د خپل تربره کړه

داوروس په خوا کا بزه کمونستان
نهالان وو د داوږ د باغستان

د مثال چه ډول کوم چی دی جریان کی
شو هلاک پدغه شبه پدی پلان کی

مشهور کمونستی حبیب الله وو
د زرمت ولسوالی د کوزی خوا وو

کابینه کی د داوت چی وزیران وو
یکایک پاخه مشهور منحرفان وو

فیض محمد، قادر، دا ټول کمونستان وو
اکثراً ئی بیا والیان ولسوالان وو

داوت خان وکړه شروع د ټکولو
چی به څوک په کوم مطلب ویزنیدلو

مسلمان قوت چی چیری منظم وو
په سرکوب ئی حکومت په هغه دم وو

مسلمان ځوانان ئې مړه کړل په وهلو
څه ئې تیښتی ته مجبور کړل په شړلو
په وهلو کی شهید حبیب الرحمٰن شو
ده پشانی په سلګونو شهیدان شو
مکتبونه کالجونه شول تری پاته
کورو اور او زندګی په ژوند میرانه
څه کسان ئې پاکستان ته مهاجر شول
څه کسان ئې محبسونو کی راګیر شول
عام ملت څخه بیا پټ دا حقیقت وو.
دداوت پښتوانه په صداقت وو
دی ځوانانو مجبوراً وکړو قیام
مګر پاته ځای په ځای شولو ناکام
په نغمان او په پنجشیر ئې حمله وکړه
ځای په ځای ئې د قیام نعره خوره کړه
حقیقت دا وو شول پاته پلانو کی
ډیر کسان شول دداوت په ځیل خانو کی
دامین خون آشام چی اقتدار شو.
ډیر ځوانان دانشمندان په سردار شو
عسکری صاحب منصب کلان سالان
جنرالان ډګروالان او تورنان
مسلمان وو خو عاشق په ظاهر شاه وو
وفادار د خپل بابا په هره خواه وو
داوت خان له دوې نه هم سترګه کیدله
عسکری قوه ئې هم وربړوله

جنرالان ئې څه بندیان خانه نشین کړه
خُرد ظابط ئې منصب دار بالا نشین کړه
عسکري ته ئې شامل دوازده پاسان کړه
مقتدر ئې څه فوجي کمونستان کړه

په موهم پوستو کې راغله ډابیدینه ـ
شول پیاوړي تحریکات ددوي لادینه
منصبدار مسلمانان هم لا شعور وو
سیاست نه بې بهري هسې مغرور وو

داسې سور سیلاب روان ئې په وطن وو
دوې بې غمه هر سړی په ځان مین وو
وه ملي دفاع برعکس په حقیقت کې
جوړ تري تندر د اسمان شو په ملت کې

مقابل کې به دهر بدلون خاموش وو
هر بدلون کې به بیا دوی خانه بدوش وو
هر کافر ته به ولاړ لاس په سلام وو ـ
تسلیم شوې به هر وقت په هر میدان وو

خوچې کله کمونست رژیم قائم شو
هر خوا په مسلمانو باندې غم شو
عسکري مسلمانان خوب نه بیدار شول
په زرگونو شهیدان په سردوار شول

زیات ئې اوس هم په ملحد رژیم کې پاتې
مجاهد له لاسه هر چرې خوري ماتې
مساوات چې دومایل دغرب په خوا
دداوت دلاسه شول تباه تباه

میوند وال ئې قیل پا نه که په مابس کی
ډیر کسان ئې زولانه کړه په هوس کی

ډیر پاخه سرمایه دار ئې تار په تار کړه
ډیر ځواکونه ئې خراب او تار و مار کړه

په گمان ئې نور له هرې خوا امان شو ۔
په قدرت کی یک تنها پاتی په ځان شو

نور او گرځید په خپلو رفیقانو
په تخریب د خلقه کیا نو پرچمانو

اسلامی ملکو ته لا ړه په سفر
مدینی منوری ته شو حاضر

په طواف د بیت الله شو بهره ور
خطی مشی ئې بیا کړه تجدید نظر

له سفره دوباره وطن ته راغی
نوی فکر ور سره میهن ته راغی

او روسان شول بی باوره په داوت
هک پک پاته وو حیران مات او مبهوت

ډیر مغرور وو پدی کار کی داوت خان
چه زه هیڅ نشي کوی د روس بچیان

حال وه داچی کوم ماحول د داوت خان ؤو
پځای شوې پکښې ډیر کمونستان وو

داوت خان امتحاناً وکړو اقدام
میر اکبر خیبر ئې راوست په دام

میر اکبر چی د پرچم مشر رهبر وو
ترور شوی پټ پنهان لوی ځناور وو

هر هر ځای په واویلا خلق او پرچم شو
دداوت په دښمنی کی هغه دم شو

حکومت کړه اجتماع منع اعلان
څو حجت کاندې تر لاسه داوت خان

مگر دوې په میر اکبر سره راټول شول
خلق پرچم ئې په مردارۀ سره جوړ شول

په صبائی داوت کړل گرفتار
مشران ئې همه واړه په شمار

ترکی ببرک حفیظ ئې په قرغه کی
کیښنول واړه په ځانته جیل خانه کی

او روسان شول وارختا دستور ئې ورکړو
خپل بچیان ئې کورتانه برابر کړو.

په اوم د ثورو شوه کودتا
هری خوانه په داوت جوړه غوغا

عسکری فرقو کی هر چیرې کامیاب شول
ټانک او توپ واړه دروې څخه حساب شول

خصوصاً قوۀ چار زری دار
دخلقیانو په لاس ورغله سهار

گ په خوانئ را روان دغه قوت کړو.
وزیران ئې گرفتار ټول په غفلت کړو

دداوت دارگ دننه پټ خلقیان وو
پټ پنهان دشورویانو پلویان وو

ارگ له لورې ټینگارو شولو په کلکه
شورشیان ئې تار او مار کړ لوهک پکه

په حیله قادر ترلاسه کړه احکام
داوت خان پدی سبب شولو ناکام
هوائی قوت ترلاسه کړو قادر
سور تنور شو په بمو کوړ نادر

ارتباط له هرې خوا په داوت بند شو
ترې تم جیره خواره ددې کمند شو
سری لمبی وی په داوت جوړ ومحشر
هرې خوائی ماشومان په منډ وسر

څوک په وینو کی لاهو شو راوپر یاد کړی ۔
نشته څوک پدغه ورځ چی خواران یاد کړی
لارد تیښتی نشته کومی خواته لاړ شی
غلامان نشته چی نن ددوی پکار شی

تریخ حلقونه وارختا تندې اخستی
مور دخپل جگر گوشه وځینی تشتی
ددنیا دغه وفا دغه بقا ده
زړه تړل پدې غداره نار واده

راشه لږ لدې قصی واخله عبرت
داوو پاې دجاه جلال او د قدرت
پیغلی لور دداوت خان وې بابا جانه
تسلیم شه لوې او واړه شو پریشانه
داوت خان په یوه ضربه سورې سورې کړه
په تینگار کی ئی حساب ورستی سلگی کړه
اخرو واژه خلقیانو دلکشا کی
دافغان ملت لاهو شو په بلا کی

حکومت راوړ پلاس دغو غدارو
خلق پرچم سړی خواره مرتد خوتخوارو

میا گل صاحبزاده بس ده لیکنه
بز ارام راحت په ځان کړه پیرزوینه

د حراغار د مینی دلدار

سخت پریشانه وه د دوه کونو سردار
له کړو وړو د مشرکانو ناقرار
هرې خواته به چې ته هسې تورتم وه
جهالت وه ظلم زور وه دارمدار
په سوچو کې او په فکر کې لاهو وه
که پیدا کړې سمه لار د خپل بادار
که دا خلق شي ازاد له غلامۍ نه
د بتانو عبادت شي تار او مار
د انسان د پاره نوی جهان جوړ شي
را پیدا کړې د توحید سمسور گلزار
شرافت وي کرامت وې عشق امینه
شي د ظلم په ځای عدل برقرار

کوچنی والی څخه داسوچ ورسره وه
نی طاغوت ته ورکاوه څه اعتبار

نه پرلاره ددې قوم ورته هیڅکله
نه ئی جهل خوشاوه د علم شار

نه ئی لهوه اولعب سره څه کاروه
نه دې ددې اسې رواجوه طرفدار

ځانی خودته به حمار وه بی سهبا نه
فکر سوچ به وه درب پرود گار

خوبیا هم دلدار دیار وه ارخاصات وه
تول عالم به ئی طابع وه مددگار!

معجزې نه وې اعجاز وه حیرانی وه
کړه اوړه ئی ناست ولاړه اوکردار

د محبوب لپاره کوشی ورک وه په کوڅه کی
بس گوشه به ئی کته څپله اوغار

دحرا غار وه اوچت جبل نور کی
وه به هلته تفکر کاوه سردار

په شپو ورځو به هملته اوسیده
یا په مباشتو به پټ راز وه پټ اسرار

وچه دشته وه صحراوه اوچت غروه
بس هیبت حکم فرما وه هو خمار!

خاموشی وه پوسکوت وه کلی نه وه
نه به دې خواته هیچا درلوده کار

پوشپه توره تیاره وه دشپی زړه وه
پاک الله ورته راولیږه پاس دار

جبرائیل په سپین لباس کی راغی غارته
نا اشنا غوندې اشنا له گرگار

محمدې مجتبیٰ ص حیران شو ده ته
په دی غره کی داسی څوک اوداسی کار

جبرائیل ع وائی (اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ ط)
مصطفیٰ ص وائی زه لوستی نه یم یار

جبرائیل په غېږ کی ونیوه دلدار شو
درې کرته ئی په تاو ورکه پشار

په دریم ځل ورته وائی جبرائیل
چی (اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ) نامدار

ټول وجود د مصطفیٰ بل رنگ صفا شو
پاس تر عرشه ئی روښانه شول انوار

دا - اُمی نبی یو دم د علم ښار شو
یار د یار وه بیا د یار شوه عجب یار

دا آیت چی مصطفیٰ ص ولوست پیمخپله
جبرائیل ع ځینی رخصت شو گل عذار

تنها پاته شو حیران وه نا زولی
چی داڅه وه او په څه وشو دا کار

وائی خانته ایا شولی پیغمبر!
که دا خوب وه دا چی تیر شو پدې غار

په سوچو سوچو بهر شو لدې غاره
مخ په زوړ شو راکوزیګی ګل دیار

ناڅاپی ئی اواز واورېده له ورایه
وائی (وا محمدا) په کړنګه هار

سترګی اړه وی هماغه سپین بشر وه
چی په غار کی ئی لېدلای وه دلدار

پورته ګورې جبرائیل وینی په سترګو
یوې خوا بل خوا لېده شی هغه کار

وائی زه یم جبرائیل ؑ ته محمد ؐ ئی
دا خری زمانی نبی نامدار!

میا ګل صاحبزاده له خدا یه غواړې
رب ذکړې له شفاعته برخوردار



د مسلمان بچي يم

ټانګو نيپام توپ وګڼشيپ بر په ماڅه وکړي نن
زه ماتي نه لرم غداره د ايمان بچي يم

ماته وږل د حق په لوري ستر بري ده رښتيا
ستا د اورونه مي ډار نشته د افغان بچي يم

په غړمبار او درزه هار د بطريو باندې دي لاقوي شوم
تندر توپان يم ستا په کور د مسلمان بچي يم!

نن به نړي ته سړي خوره جوسه وشيم ستا
د اسمعيل ذبيح الله د خالد ځوان بچي يم

ماته پلرونو لا پخوا ژوند د عقبي شو دلي
زه سراسر مرګ ته پيدا يم د زندان بچي يم

ماته ژوندون د خدائ رضا ته وصله ده تنها
مال او اولاد نه تيريدونکي پهلوان بچي يم

راشه لږ وګوره تاريخ زما د نيکو د پلرو
چي ئي انګريز که رانسکور د اکبرخان بچي يم

ماته هندوانو کافرانو له پخوا سر ايشي
زه د محمود بُت شکن غوندي انسان بچي يم

ته لوې طاغوت وې هېڅ ولس دې مخه نه لېدله
څنګه مې سپک کړی ماتی داړی هسی شان بچې یم

نن چی په خوب کی ګرباچوف افغانستان ووېنی
پړمخی پرېوزی له پالنګه دافغان بچی یم

نن دې په غبرګود ملل پښی نېولی دې بیا
په منډو سرتی رانه حی هغه طوفان بچی یم

کله به هېرکم ستا ظلمونه په قزاقو باندې
درنه به واخلم انتقام څه مسلمان بچی یم

تا شمرقند ازبکستان کی چی ظلمو نه کړی
اوس راته ټینګ شه سره روسیه باایمان بچی یم

صاحبزاده رښتیا دی ووی نن ئی طلسم مات شو
هر مجاهد ویاړې اووائی قهرمان بچی یم

★:★:★:★:★:★:★:★:★:★:★:★:★:★

طائف ته د رسول ص سفر

چی مبعوث شو پیغمبر اخر زمان
منور شو تور تیاره واړه جهان

جهالت وه د بتانو عبادت وه
مظلومان بی نوایان په سخت ذِقَتْ وه

په بِیته د رب کی یَوْ ډِیْرَیْ بتان وه
ضلالت خلق تورتم کی لالهان وه

په اول کی چی مبعوث (ص) شو پیغمبر
د مشرک دلاسه وه په ذقت سر

پټ په کور کی به دعوت وه د نبی
دشمنی وه ورسره د هر سړی

چی به پوهشول مشرکین په کوم کس باندی
چی ته پټ د مسلمانو خدمت کاندی

ټول کفار به د دې کس وه د ښمنان
دِ وژه لو به ئی تړ-کا وه عیان

محمدی مجتبیٰ ص سخت پریشان شو
په امید د پناه غوښتو راروان شو
په طائف کی بیا یو قوم بنی سقیف وه
خو مخ توری گمراهان دغه کثیف وه
د طائف په لور روان خیر البشر شو
یو غلام ئی په خدمت کی بختور شو
دوه نفره له مکی نه شول روان
د طائف په لورې تله پټ او پنهان
نازنین بشر روان وه په سفر
په پشو ئی طی کول دشته اوغر
د پشو درې شپی درې ورځی سخت منزل دې
اوس خولوې سړک جوړ شوی دموټر دې
دنگ اوچت غرونه پیچومی دې په لاره
بی اوبو لمر سوزنکی ده دلد اره
دغه ستړی ستونځی تیری مصطفیٰ ص کړی
دغه لوږی تندې تیرې مجتبیٰ ص کړی
دې سره چی دخدای دوست نور الهداده
خدای دده په روی پیدا دغه دنیاده
که ده هرڅه غوشتی وې له خپله خدایه
هر هرشی بیا ورکول خالق له ورایه

خوداواړه سختی ستونځی یو حکمت دې
دا مت د پاره دا ستونځه سنت دې
دَاخدای د دین د پاره مشقت دې
او مؤمِنْ ته دا جهاد ستر عَظَمَتْ دې
راشه زده کړه سر بَا یُلَلُ له خَیْلُ آقَانَه
عاشقی په اورسوزل له مصطفیٰ ﷺ نه
د پتنگ د سوه زید و اسرار جانانه
سر ښندل په معشوقه له مجتبیٰ ﷺ نه
لاړه ورسید طائف ته زموږ آقا
د غه قوم ئی رضائی باله ماما
چی خبر شول فرعونان په مصطفیٰ ﷺ
دوې کی جوړه کړه ابلیس لو په غوغا
دا به موږ نه ضعیفان ټول مسلمان کړی
رانه بیل به نوکران او غلامان کړی
موږ به یو دَ بَلُ دښمن شو په خپل منځ کی
که پناه ورکړو- مأو ا- د ه ته خپل منځ کی
موږ به خپلو کی د ښمن شو سره واړه
که پناه ورکړو یا شو سره هم غاړه
بل به ټول قریش زموږ شی دښمنان
رانه پاتی به مکه کی شی بتان

نو دې کس ته پناه نه شو ورکولا ې
نه ئې دلته په طائف شو پرې شو دلا ې
دې قوموکی یو قومی غیرت وه پاته
چې په سیمه به ئې ځان باله میراته
چې به چا سیمه پناه یو وړه امان
تیریده به پدې کس واړه له ځان
دلته ټول شوه د طاغوت په غږ روان
بې غیرته شول بې سیمې کافران
ټولو ووې محمدی مصطفیٰ ﷺ ته
چې موږ نه درکوو سیمه څه بل خواته
ته په سحر موږ نه بیا ئې ضعیفان
غلامان بولی زموږ په شان انسان
نور چې دلته په طائف کی نه شی پاته
زر به ووځی چې نزدې نه شی هیچاته
گوره موږ بدی دادین کړو درمیراته
ماشومان او غلامان به دې شی پاته
تماشه کوله پاک غنی اکبر!
په ثناء وه اُولُ العَزمَه پیغمبرؐ
پاک الله د خپل استاذې تماشا کړه
خو رسول ورسره سرباندې سودا کړه

په تنها وجود ئې عزم وه دنیا ته
چې جهان واړه راوه بولی رښتیا ته
انقلاب راوَلی توره شپه صبا کړې
په عالی غوره بدلون دنیا رڼا کړی
د ظلمونو په ځای راولی انصاف
د مشرک څخه جهان کړی واړه صاف
خپل امت ته دَ غیرت قدم ور یاد کړی
درس د مینی په سر لوبه ور په یاد کړی
ورته وشئ د عشق الف او باء
نا اشنا غوندې خمار بیله صَهُبا
بیل رقم مستانه لوبه او غور زنگ
له پشو لاندې کول د هر گړنگ
نوې رنگ نوې گلونه بیل گلشن
مالیاری د گل گلاب اونسترن
په هر حال د خدای رسول شو لو ځواب
په تخریب د مصطفیٰ کی شول کلاب
ماشومان وحشی ځوانان ئې کړه تحریک
په آزار د مصطفیٰ کی شول شریک
مصطفیٰ بیرته مکی ته چې روان شو
نو په لارو کی راټول ورته وحشیان شو

هر طرف نه ئې وېشته ځناورانو
هرې خوانه ئې واهه دی شرمخانو
له هر لورې نه د کاڼړو باران جوړ شو
شوا خون شو په مَلَکُو فغان جوړ شو
وېر جړا وه آسمانونه جړېدل
زلزله وه اوچت غرونه لړزېدل
دافق لمنی سری وې سور انګار وه
په هوا کی د مرغانو کړنګهار وه
په ارواحو د نبیانو جوړ ماتم وه
هلته جوړه واوېلا په ادم غم وه!
امتحان وه دالله لخوا جوړ شوی
د محبوب ئې لوړ همت وه پارېدلی
په هر حال وحشی کافر ووېشت په کاڼو
کړنګه هار وه په آسمان کی جړل ځانو
مبارک وجود ئې ټول رنګ شو په وېنو
ټول وجود ئې شو زخمی هر ځای ئې شین وه
دی وحشیانو به له هرې خوا شکنځل
هری خوانه به خروړی نمېېدل
ډېر ضعیف به شو نبی خیرالبشر
نو به کښېناسته په ځمکه بختور

۸۷

ډېر بې سېکه به شو وینې به تری تللی
په قدم کی بې پښې وریږدی دلی!
دوه وحشیانو به وزرو کی راوچت کړ
مصطفی خیرالبشر بې په زحمت کړ
په تکرار ئې وېشته او غپېدل به
ماشومان او غلامان وه لوبېدل به
نه څه رحم نه شرف وه نه انسان وه
مشرکین بد خنځیران ځناوران وه
نه ئې دمی ته پرېشود بنی سرور
نه څوک وه چی سپی ئې منع وې بهر
یک تنها ترې نه چار پیر سړی خواره وه
سره لیوان وه ځناور ادم خواره وه
په پښو کی ئې چینی دی وینو نور وه
خو ټېدی او بارېدې وطن پی سور وه
څو چی ورسېد دیوال ته دیو باغ
له دیواله وردننه شو چراغ
سوی زړه دیوې ونی لاندې کښناست
په سرو وینو لمبېدلی ستړی کښناست
دغه باغ د عتبه او د شیبه وه
چی بنی خیرالبشر پکی میلمه وه

د کفارو له آزاره دلته خلاص شو!
امتحان کی دَ خالق بریالی پاس شو
د خالق سره ئی جوړه مرکه کړه
فرشتو د اسمانو ئی تماشه کړه
مصطفی له خپله ځان کړه پوشتنه
دَ خپل ځان سره په سوچ کی وه مینه
ویلی خدایه تا په سترگو تماشه کړه
ماخو دې خلکو ته خیر غوښتو پیشه کړه
ماخو دا خلق له اوره بچول
سړی توب ښکلی اسلام ته می بلل
مگر دوی ما سره داسی رویه اوکړه
په لحظه لحظه می تا تماشه اوکړه
ماخو ستا د دین د پاره قدم کښېشود
هر قدم نه می دوینو نشان پری شود
چی دا واړه ستا له قهره څخه نه وی
زما مرگ به ستا په لاره په لبمه وی
که دِ ستا د رضایت سبب شی دا
نو زحمت نده پرې وپاړه هویدا
چی د باغ څېشتن دې ولیده له ورایه
رنگ په وینو مسافر داسی بی ځایه

نو غلام ته ئی انگور ورکړه پلاس کی
او راوی لېږه بنی ته په اخلاص کی
نو شفیع المذنبین ته ئی کړه وړاندې
دې غلام په شه رو یه په ادب باندې
بِسْمِ اللّٰه الرَّحِیْم ووی مصطفیٰ ص
حق حیران شو خواره کو ټکی غلام بیا
وی دا څه الفاظ دې ووی بختوره
دا ته څوک ئی بلکل نور ئی عالی غوره
ما تر اوسه داسی کس نده لېدلا ې
نه می داسی خوږ اواز بیا اورېدلی
مصطفیٰ ص وی محمد دَ خدای رسول یم
د دې خلکو څخه سخت نن په ضرور یم
غلام ووې صدقت د خدای رسول ئی
ما منلی په لیمو ئی ما قبول ئی
ما ته وشیه ستالاره بختوره
چی زه هم ستاسو په دین شم منوره
وی په هر وخت کی یو بوله خپل الله
په خوله وایه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه!
ځای په ځای ئی ایمان راوړ مسلمان شو
مگر باغ والا په قهر پوچ گویان شو

وی رښتیا چی غلامان تحریکوی ته
ضعیفان له اسارته خلاصوي ته
سم دلاسه موله باغ څخه بهرشه
یاوي بیا پداسی سختو باندې سرشه
محمدی مجتبیٰ ؐ وۀوت پریشانه
دمکی ادم خورو ته شو روانه
پر سر وریځه سایه بان وه پرده باندې
مبارک بشر پیاده روان وه لاندې
چی راوۀرسیده دَیُ قرنِ سَعْلَبُ ته
هیڅ ئی فکر نوه ځانته نه کوکب ته
راپر خود شو چی پاس گوری جبرائیل ؑ دی
ورسره دغرو ملکه قال اؤ قبیل دې
جبرائیل وې السلامْ علیکَ یاره
خدای ج پر تا باندې سلام وائی دلداره
وائی ما ستا قربانی کړه له قبوله
ستا سری وینی پوخ ځیگر می کړو منظوره
رالیږلی ئی ده تا ته گل عذاره
فرشته دغرو نو ده تصرف داره
ته چی هر امر کوې هغه به کیږې
طائفیان به ستا پر امر تباه کیږی

کہ دې زړه وی اوچت غربه پې نسکور کړی
سمدلاسه به پرې جوړ شوا خون اور کړی

مگر شاه انبیاءؐ وی جاهلان دې
خیر سم به شی ناپوهَ غافلان دې

اَللّٰهُمَّ اِهْدِيْ قَوْمِيْ يَا قَهَّارَهَ
اِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ - پروردگاره

زما خاونده میا گل لاښه بینا کړی
په نصیب ئی شفاعت مصطفیٰ کړی

زما خالقه تانه عفوه خانته غواړم
ستا په درکی به په چیغو چیغو جاړم



نصیحت

راشه پریږده گوره نن د نفس هوا

مکوه ځان سره نوره ناروا

نن کولای شی چه ځانته څه پیدا کړی

خدای درکړائی شه صورت سترگی بینا

لاس پښی ښکلی قامت الله درکړای

سالم زړه سالم وجود جوهر صفا

عقل فکر ښه حواس الله درکړی

نعمتونه دب درکړې بی بها

ان تعدّو نعمت الله لا تحسوها

خوری چیکی د خدای روزی صبا بیگا۔

په خدمت کی د ابلیس همیش لگیائی

کبیری گناه ته نه وائی گناه

مخ دې تور شه لاړی تور مخ لدنیا نه

مرگ دی هیرده د دنیا په حب لگیا

شپه او ورځ ئې په تحصیل دمال، دولت کی
گواکی مرگ هیڅ کله نه شته ستا پخوا

گوره دا دنیا غدا ره بی وفا ده
خالی لاس ورڅخه درومی شا گوا

ستا نصیب به یو کفن دې یا به نه وی
مه بایله شوین ایما په اقرباء

ډیر ځوانان شو تری تم په سین لاهو شو
پې همیش به ئې چکر دو په فضاء

ډیرو غوښی شوې نصیب دځنا ورو
سترگی دخوړې مرغانو د هوا ۔

میا گله بس ده دومره نصیحت
ځان دوژغوره له نفسه له هوا ۔

ستا په قتل به کړمه بختور

تر هغو به زما ټټر د دښمن سپروی ۔
څو زنبیل کی می مرچی نه شی صفر
تر هغو به په دښمن تندر غړمبیګم
څو غلبیل می په بمو نو شی ټټر

تر هغو به در پسی یمه ناکاره
څو می وریت په سر وګولیو شی ځګر
څو دي لاش په سپیو و نه خورم غداره
بیا می مه بوله د خپل نیکه پسر
څو می ګرځی د تن وینه په رګو کی
ستا په قتل به ځان کړمه بختور
څو می سا دمه چلیږی لاس پښو کی
جوړ تو پان به ستا په کوریم برابر
څو می را شی خولی ته دمه په سلګو کی
را سره به وی تو پک الله اکبر
چی د سره استعمار جوړی شاړی نکړم
سر می بیل کړی مسلمانو په خنجر ۔
د مؤمن افغان بچی به نه یم ګوره
چی په سر و خر سا نو جوړ نکړم محشر
تر هغو به د اولاد دیدن و نکړم
چی پری نکړم پرچمی زندیق نه سر
نر می مه بولی چی سور تنور جوړ نکړم
په خلقیانو باندی کور سمه اوغر

چې له روس نه دی ناموس باندی اخستی
درته اور به کړم روبلو نه او سره زر

دامی عهد او سوګند دی بی ناموسه
کریملن نه به دې تیر کم برابر

چې بر منډ دی نکړم تورمخ سره غداره
بیامه بوله دغرونو قلندر

تا په ځاله دزمرو ګوتی وهلی
اوس به وګورې خپل زور او خپل هنر

سره دجاله نن دې وار دپرزیدو ده
درپخوا شوه دعیسی مسیح لښکر

میاګل صاحبزاده ده دغه لاره
څو چې وه ئی غواړی پاک غنی اکبر



د انګلیس او ایلیس مشترک نیا لګی
غلام احمد قادیانی

په ربنتیا چې اسلام کفر ته خطر ده
هر فرعون ته ئې کلیم ور مقرر ده

هر ظالم لره جوړ سوک دندان شکن دی
استعمار لره نیپام اتم شکن دی!

نمرود پانو ته جوړ تند رد اسمان ده
لوی ګرنګ ده لوی تدبیر ه لوی پلان ده

دا ایمان ده ربنتیا شان ده لوی وقار ده
په دا رښتو د انسان د زړه قرار ده

دلته عدل او انصاف او شرافت شته
د انسان د پاره لوړ عالی همت شته

دلته حق شته کرامت شته او ادب
ارامی شته سوکالی شته او نصب

خو غور زنگ ده بس طوفان ده په غدارو
رښتیا تندر د اسمان ده په خون خوارو
په هر ځای سړی خواره ځینی په تنگ وی
په تنگ څه چی سر خنجر سره په جنگ وی
استعمار لره هم لوی دښمن اسلام دی
شپه او ورځ ئی د تخریب ورسپی پام دی
استعمار د ایمان والو نه تباه شو
هر مؤمن گوری غدارو ته موسیٰ شو
استعمار په گروړونو پسی شیندی
د تخریب د پاره ځغلی غاپی تیندی
د اسلام په دشمن کی ټول هنود دی
اسرائیل دی که انگریز او که یهود دی
کمونسټ که سیهونسټ دی که فاشیټ دی
کپیټال که شوشلسټ که نیشنلسټ دی
مطلب دا چی کفر واړه یو ملت شو
د اسلام مقابلی ته جوړ ذلت شو
انگلیسی استعمار مخکی هندوستان کی
رنگ په رنگ ځامن پیدا کړه خپل پلان کی
په اشکالو لباسونو شول راپورته
چم په چم غله د اسلام راغله زموږ کورته

ځکه هغه وخت انګلیس سخت خوار او زار وه
د اسلام دلاسه هر چیر ته مردار وه

ټول هندوان ئی غلامی ته تابع دار وه
خو مسلم ځواګونه هر چیر ته پې دار وه

د جهاد په نامه ځای ځای مبتلا وه
هر هر ځای ناخود اګاه انګریز تباه وه

سرحدونه سره اورونه وه دښمن ته
ځای په ځای تندر طوپان وه دې پمن ته

نو مجبور وه ابلیسان ئی راپیدا کړه
جاهلان اسلام ناپوهه ئی تباه کړه

یو ابلیس د انګریز ځوی غلام احمد وه
د پیسی بچی دجال غل د احمد وه

د قادیان د کلی برډ ګردان پور وه
هندوستان کی د پنجاب د سره تنور وه

د انګریز یو ملازم وه د ده پلار
دې منشی په یو دفتر کی وه غدار

د انګلیس او د ابلیس رښتیا تلمیذ وه
د مکرونو نیرنګونو څلی څیز وه

په همدې مطلب روزلی وه غدارو
دا ډاکو پوره خبر وه لدې لارو

عربي علوم ئي لوستي وه څو کاله
ځان ئي شيخ بر سيسا جوړ وه دجاله

څه شهرت ئي چي پيدا که مدعي شو
وي ملهم يم من الله ملحد باغي شو

ماته خداي له خوا الهام کيږي ولي يم
اولياء څه وي زه پورته مدعي يم

يوي خوانه دا نگليس وه دولتونه
بلي خوانه دا بليس وه نيرنگونه

ښکاره پټ فوج او دولت ده سره يار وه
خامخا به ئي بدخوا هلته په دار وه

په پيسو په دولتوئي جذبيات کړه
په فحشا په نيرنگوئي تخريبات کړه

شا او خوا به دا غوزاړي پري راټول وه
هر يوه هسي گرداړي ځيني ټول وه

عجيبه چاغه مردار ه وه او سپيان وه
گزمه دارئ خنځيران او شرمخان وه

چي لږ څه نفر پيدا شو شو گويا نه
وي عيسیٰ يمه راغلي له اسمانه

معجزه ژوندي کول ندي وږل دي
پټ ترور دا نگلسانو خشول دي

تر پیسو او سرو بر چوشه اعجاز نه شته
د غوښتنو گوېگنو مجاز نه شته
ډېر ځوانان د دې دجال په سر تباه شو
ډېر پوهان هر ځای په سختو مبتلا شو
حکومت د طاغوتیانو وه سور اور وه
دا دجال د انگلسانو نیال د کور وه
په اخر کی ئی دعوه وکړه انگریز
وې زه مثل د احمد یم دې رنگ ریز
وی مودل او دوهم مثل محمد یم
نواقص پوره کونکی د احمد یم
په سل ځله می توبه پروردگاره
العیاذ معاذ الله له داسی کاره
بس لیکل تالیفول د کتابو وه
د انگریز ټول لیک والان په نوشتو وه
نوم دده وه راوتل به کتابونه
جوړېدل سمبالېدل ورته ځېزونه
دې احمق به ځینی داسی نوشتی وې
څه ملنډې وې نخری وی تماشی وې
کله لیکی زه له خدای نه شوم پیدا
کله لیکی زه دوهم یم مصطفیٰ

څه لیکنی ئی اوچتی په سویه دي
څه ملنډې او ټکالی مسخره دي
بس انګریز وه لیکوالان وه قسم قسم
د دې سپی په نام ئی وه ایسته هر قسم

چی راټول شول پی سرکوزې چاپړوسان
نو ئی ووې چی منسوخ دې ټول ادیان
ځکه ده نن پیدا کړی ذرائع دې
منسوخی شوې ځکه مخکی شرائع دې

نو دعوه وکړه کذاب د نبوت
مسلمان به ئی کافر بلل آفت
انبیاوته کړلو نسبتو . نه
په قرآن باندې ئی کړلو تعروضونه

قادیانی نه وه له واره لوې زندیق شو
د انګریز په نیرنګونو ئی عمیق شو
تو لعنت دې وې پدې کافر کذاب
اوس به پروت وې اسپلین په عذاب

برطانیه ټوله لګیا وه په لیکلو!
ده د پاره ده په نام په نشر ولو!
یو کتاب ئی براهین احمدیه دې
خرافات فوچ او پرګندې قادیانه دې

بل کتاب ئی بیا انجام اَتَهَمُ بولی
کفریات دې سراسر دده له لورې
دې لیکنو کی ئی داگنگی شیندلی
نمرود دې د فرعونی دعوی ئی کړې
ځان ئی دلته پیغمبر بللی گرانه
او د وحی مدعی شوی له ځانه
دې اخیث ویلی ماته وحیه راغله
لدې پسه جهاد نشته نهیه راغله
په اوله وحیه بند شولو جهاد
چی بادار ئی په جهاد نه شی برباد
د انگریز غا په همدا وه چی امان شی
له جهاده په امان پدغه شان شی
یوه ورځ چرچل واکمن د استعمار
برطانیه کی کانفرانس کی وې غدار
انگلیسانو ته خطاب کوی او وائی
اشاره باندې قرآن او کعبه ستائی
څو پدې باندې عمل د مسلمان وې
نو انگریز دې لدې خلکو روگردان وې
او که غواړې استعمار د مسلمانو
دوې لدې دونه کړی لری انگریزانو

که مولږی کړه داخلک له قرانه
یا موپاته کړه څه لرې له ایمانه
با په عیش او په نحشا مو مبتلا کړه
په پیسو او په وعدو موتړې جدا کړه
با په دوې کې مونفاق که راپیدا
بیا کامیاب ښاستی پدوې کې جرالا
ماره وې ئې باروی ئې ستلسرواک دی
بې ایمانه مسلمانه حسی مسراک دی
تش کدو وې بې غیرته بې جرئته!
تل به پروت وې خوری به هر چیرې لغته
قادیانۍ ئې دهمدې دپاره یارکه
له تشر چوړې نه ئې لوې فرعون تیارکه
مباګل صاحب زاده غواړی مولا!
ته راوینې کړی مسلمان ټوله دنیا

***

مجاهد به ئې کافر باله بې دينه
يا به وې مباح الدم ورته لعينه
ده وې ماپه منسوخيت باندې لېکلی
کتابونه الماری مې ډکی کړې
بس کذّاب وه لعنتی هرڅه بې وئيلی
دا نګريز غوندې بادار وه خود بې وئيلی
دا نګريز يو ګوډاګی وه پې ولاړ وه
نه په پروتو شرمېده نه په ولاړ وه
دې انګريز به مجاهد بلل اشرار
بد اورد به ئې وئيل دغه کفار!
وې به ئې قرآن ملانو تحريف کړئ
هغه اصله نخښه دې خلکو ورک کړې
په اوله کی زه وم پکی يادشوې
زه نبی او پيغمبر وم بلل شوې
محمدې مجتبیٰ نه وه خاتم
هغه نشته دو يه کړی ترې تم
داسی ستر کافر نمرود وه سرپرې کړې
دانګلېس خروړې سپی وه سرور کړې
لويه خدا يه په نصوح مې دې توبه وې
دهو اغو بنتونکی داسی شرمنده وې

دابلیس دغه روان تحریک چلیږی
د دنیا کلاب اوس هم پې غلطیګی
دا د سَرِیُ اوردې ګوره غلط نشی
مسلمانه نور ویده دغفلت نه شی
لا تر اوسه ئې اوچت کار او کتار دې
پټ ښکاره په هر هر ځای کی سری کار دې
هندوستان کی ئې مرکزده نشریات دې
خپرونکی شیطانان دی کفریات دې
یو اخبار ئې الفرقان په نام خپریګی
یو الفضل یو البَدر بلل کیګی
دیهودُ سرمائی له دوې سره دې
هر قادیان دخر دجال غوندې پوره دې
پاکستان کی هم پاخه سرمایه دار دې
دپردې شاته همهاغه سی غدار دې
په هر حال دالوې دجال هم لاړه خوار شوو
په تټئی کی په مُتیازو کی مردار شوو
بس یو څو ورځے عیشونه وه مالدار وه
دا نګریز په غلامی کی ښه سردار وه
اخر لاړه جهنم ته سر په دار شو
په دولت باندې ئې نور کسان مالدار شو.

ده ته روستو په دوبرخو کی تقسیم شوه
میوزایان او لاهوریان شوه سره نیم شوه
د دنیا دغه وفا دغه بقا ده
زړه تړل پدی غداره ناروا ده
راشه زما د زړګی سره مسلمانه
ملا او تړه په ننګ شه با ایمانه
د غفلت خوبونه پریږده را بیدار شه
په شرابو د توحید باندې خمار شه
راشه والوزه شاهین شه باوقار شه
یا منصور شه ګل د وینو شه په دار شه
د پتنګ غوندې ستی شه خوار او زار شه
مینه زده کړه بیا میدان ته شه دلدار شه
راپه خود شه دا میدان د سر بایلو دې
دلته لوبه د ککرو د سرو د ې
او بازی ده وردانګل په دریا بو دې
رنګ بازی ده رنګول په وینو سرو دې
راشه راشه غدارانو ته ګړنګ شه
په مستی سره د مینی خوا ته ړنګ شه
مسلمانه چی کلیم نه ئی نو څوک ئی
چی خالد د خپل غلیم نه ئی نو څوک ئی

راشه راشه هر فرعون لره کلیم شه
خو زپلو مظلمو مانو ته حلیم شه
جوړ عمر شه او صدیق شه مسلمانه
هر کذاب په سر ددار که با ایمانه
اسمانی تندر طوپان شه راغړ مبیګه
په فرعون د استعمار باندې رالو یګه
مېا ګل صاحب زاده به هلته ویاړې
چې د نیا فرعونان ستا له لاسه ناړې

سور استعمار

او روسان چې تش په نوم صلحه دوستان وو
دپردې شاته مخ توری شاماران وو -

وینی څیښونکی سړی خور ځناوران وو
دخلقیانو پرچمیانو باداران وو
تش په مخ ئې دانسان څیره خوره وو
سره لیوان دانسانانو دښمنان وو

کورکالی ړوډې به ؤی دغو غدارو
غمخواره وو دخوارانو غریبانو
تل سورې به دمظلمو پرګنو وې
چې راټول شی مزدورانو نوکرانو

چې په خپل استعماری مطلب کامیاب شول
جرړی دوتی اول ددهقانانو
دهغو چې دکور طمع وه لدوې نه
ګورستان ئې ورته کورکه اوروسانو

دکالو په ځای ئې خلاصی کړه له کفنه
ډیر په دښتو کی خوراک شول دمرغانو

ځینی و سوزل شعلو د سوسیالیزم
تری تم شول هډاو گوډ د غریبانو

بنگلی ئی په بمونو کنډ والی شوی
پورته کیږی تری زگروې دیتیمانو

په څلورو دیوالو کی حیران گوری
شرین پلار او مور ورک کړی ماشومانو

لوڅی پښی په تن برمنډ هری خواسروی
لاپدی کی تندر اورې په خوارانو

سور شکیلاک لا د بشر دوستی دعوی کړی
ځینی اوس ځان پری دوکه کړه احمقانو

خوافغان ولس کی راشه تماشا ته
چی ئی نوم د حق ژوندې که شهیدانو

استعمار ته ئی د مرگ تپیره ورکړه
ماتی و منله نن قطبی خرسانو

په جهان ئی اشغال گر قوت حیران گړ
ایمانی سلاح ترملا کړه افغانانو

نن به تښتی له جیغی نه ماتی داړې
سخت ننگین گذا خوړلی شرمخانو

حیران پاتی نړی وال ئی فضیحت ته
چی روسان و شرمیدل په پرچمیانو

داخیلی جیغه خواره په میدان پاته
په ملت کی پوزه نشته دخوارانو

لاس په ډوډۍ خپل بادار ته په زاړ دی
خدای دپاره پرتوگ خیږی له خلقیانو

مونږ موپری شودو په تور مخ تاسو درومی
دی تپی زخمی ملت ته غدارانو

مونږ خو داخلک ژوندی په خاورو خش کړه .
په خدمت ستاسو بی رحمو اورهسانو

ماشومان مو په برچو سوری سوری کړه
جوړ قیامت موکه په کونډو یتیمانو

پدمی طمع چی داستر طاغوت به کاندی
مونږ شپنو له همنشین د بادشاهانو .

مگر هیڅ پلاس را نه غله مخ مو تور شه
آه غلط کړو پلنگ شکله شغالانو

داسی ستره کامیابی الله نصیب کړه
دی محروم افغان ولس ته مسلمانو

نوراځی چی دالله شکر گذار شوا
اعتصام په حبل الله وکړو یارانو

ددنیا په مینه رب را نه هیر نه شی
ماتی وموندہ اخرجاه طلبانو

میاگل دی تل الله ته په زاړ دوی
چی نصیب ئی شی قدم دصالحانو

د حضرت اسمٰعیل ذبیح الله (ع)

صلوات الله وسلامه علیه

دردونکی قصه

اسمٰعیل نوې پیدا وه عجیب څوک وه
عظمت ېوه ټوټه وه داسی څوک وه

هاجره هم باعظمته ېوه بی بی وه
باایمانه باجرئته ېوه بی بی وه

د الله په ازلی علم کامیاب وه
د درنو امتحانو جوګه په خواب وه

څنګه پلار ئی چې ربنتیا خلیل الله وه
دا سی دې په خدای متین ذبیح الله وه

لوې څښتن په ېوه حکمت سخت امتحان کړه
ټول مخلوق ته ئې دا عظم نمایان کړه

له یوې خواشه خواب وه د غیرت
بل طرفته لوې سنت شو دا مت
فرشتو دَ خاورو ولیده وفا
لا ځوابه شوی په سوال کی هویدا
ابرهیم خلیل الله مجبور شو ورورہ
مور او ځوې ئی دواړه واسته له کوره
دیو اوښ سره روان شوه مخ په دښتو
دا بی بی ئی مبطلا کړله په سختو
په اوږده سفر روان وه عاشوقان
په سوزانه سرو رغو کی سرگردان
د مکی مکرمی رغو ته راغله
نه بیته وه نه کوته بس غروته راغله
نه اوبه وې نه شنیلی تش بیابان وه
نه ولس وه نه نږدې ورته انسان وه
سوزونکی گرم لمر وه سره ریگونه
ویرونکی خاموشی وه سره بادونه
پلار او مور جگر گوشه دلته ایسار شو
د خدای دوست ته امر وشو بی قرار شو
اوس مجبور وه ځوې پریږدی او روانیگی
دا سی عظم ته ملکی حیرانیږی

له یوې خوا وړ ماشوم جگر گوشه ده
بلی خوا ته د الله پی ننداره ده
حیرانی ده د اسی عظم دې ایمان ته
دریانی ده دې ورکړې امتحان ته
ابراهیم خلیل الله اوښ راولاړ که!
له غریوه هسی ډک زړه ئی ملال که
په جړا جړا ئی وکا ته بچی ته
مخ ئی واړاوه راواړاوه بی بی ته
هاجره چی پوهشوه دوست ترې روانیږی
اوسی دخواره پدې دشته کی جړیگی
بی بی پوهشوه له چی موږه خوار حیران شو
په نصیب د دغو دشت و بیابان شوو
بی قراره شوه راپورته په جړا کی
له لمنی ئی خاوند وینو صحرا کی
په سلگو سلگو ئی وکړله پوشتنه
نکسه مونږ غواړی چی پریږدی خدای مینه
لکه مونږ چی شو خوارک د ځنا ورو
تگی وږې په دې دشتو کی موسروه
لږ پدې واړه بچی خو مهربان شه
خدای د پاره موږه مه پریږده امان شه

خدای د پاره موږ دې چا ته حواله کړو
غریبان خواران دې دشتو کی پیاده کړو

ابراهیم خلیل الله هسک او حیران وه
پټه خوله دَ خدای په امر ترې روان وه

او ښکو ډکی سترگی واړه وی بچی ته
او نیولی ستونی چپ چپ وی بی بی ته

یوه خوا دَ پاک الله ستر امتحان ده
بله خوا جگر گوشه او بیابان ده

یوې خوا د عشق لمبی دې سربازی ده
بلی خواه په جړا سر دده بی بی ده

یوی خوا مسابقه ده پتنگی ده
بلی خوا د غریبانو بدحالی ده

هلته پاس ټولی ملکی تماشه کړې
دلته لوې څېشتن تعالیٰ ئی ننداره کړې

اخر پوه شوله بی بی چی نه ستېنگی
بی کسی څخه دا خواره نه بچېگی

نو ئی ووې خپل خاوند ته په سلگو کی
څه ډاډه غوندې وړو وړو گېلو کی

وی ما پوه کړه زما خاونده واک می نه شته
که دا آمر دَ خاوند وې باک می نه شته

که درب داسی رضاوی زه رضا یم
که لدې نه هم په سختو مبتلا یم
بیا خو ته ورځه بلکل مانه بی غمه
زی دې سوه زم دبچی په غم لغمه
په لیمو می قبول کړی داسی حال وې
ما درب په رضا ایښی سراو مال دې
خلیل وائی دازما دسترگو نور دې
بی درب له حکمه څه پما ضرور دې
زه به خپل دزړه قطری څرنگ گریان کړم
یا بی څرنگه د دشتو غریبان کم!
ما د خدای په امر خدای ته حواله کړې
تکی وږې می له خدای سره میلمه کړې
لږ او به څورې چی دوی سره توشه وه
هغه خلاصه شوه عجبه تماشه وه
تش میدان وه بی کسی پورته اسمان وه
بی له خدایه بل څه نه وه بیابان وه
په گرمی کی نور له تندی وار خطا شو
هری خوا په منډو تر ړو مبتلا شو
څوې ئی واچوه په ریگ کی خواره لاړه
د صفا غونډی ته وخته نامدار ه!

چې که شا او خوا څه نشه د انسان وي
چېرته دود وې آبادي وې یا کاروان وي

له صفا نه د مروا غونډې ته لاړه
راشه وګوره همت په جړا جاړه

د صفا مروی په منځ کې یوه شېله وه
اوس مېلین اضغرین دې داویاله وه

دې شېله کې به ماشوم ځینې پناه شو
پوخ زړګی به ئې ګوګل کې په جړا شو

نو په منډه به وتله دې شېلې نه
حجاج اوس هم په تېزي تېرشي مېلې نه

پوره اووه وارې صفا مروا ته لاړه
داوبو په لټولو وچه غاړه

په اخر سعیه کې پاس وه په مروا کې
خواشینې کې په سوچونو په سودا کې

نا اُمیده شوه بچي ته په جړا شوه
پاک الله ته په زارو په واویلا شوه

او ښکې ډکې سترګې اړه وې ذبیح ته
ګوري سپینې اوبو رقص کوې مسیح ته

د ذبیح پشو ته مثنی اوبه پیدا شوې
د معصوم ماشوم پښو ته په نڅا شوې

لویه خدایه دې ساعت په روې ماښاد کړې
په دارینو مې کامیاب کړې ما دلشاد کړې
بی بی راغله له په منډه دې او بو ته
شا او خوائی ریګ ترې تاوکه دریدو ته
کله کیږې په ریګو چیری بند یږی
په تیندکو غور زنګو نو را خو ټکیږی
وارخطا وائی بی بی زم زم او بو ته
حیرانی ده دې ساعت کی خوشحالو ته
دا چینه نن د زم زم غوره چشمه ده
پی سوکاله ټول حجاج د خدای بیته ده
بس ظاهر باطن مرض لره دوا ده
هر مرض او خباثت لره شفا ده
په هر حال څو ورځی تیری شوی پدوئی
بی کسی وه غریبی وه مور او ځوی
یو کاروان راغی ناڅاپه سرګردان وه
دا و بو په لټه تګی پریشان وه
سخت خوشحاله شول حیران وه دې کمال ته
دی بی بی ته د زبیح عالی جمال ته
دې بی بی سره ئی دا فیصله وکړه
په او بو باندې ئی دا سی حیله اوکړه

وہلی ستاسو مصارف بہ تول پہ مونږ وی
پہ اوبو کی بہ بیا برخہ خو مونږ وی

داقبضہ وہ دلتہ لوی کلی آباد شہ
وروستہ دې ځای کی کعبہ شو دخدای یادشہ

داقربہ بلل کیدہ بکہ اول کی
وروستو بیا شوله مکہ پہ قرن بل کی

دلتہ لوی شو اسمٰعیل ذبیح اللہ
بیا پیدا کہ ابراهیم خلیل اللہ

دولس کاله وروستو بیا ستر امتحانونہ
مہاگلے صاحبزادہ عجب ښکلی وہ

* * * \

دکسب او کمال ستاینه

الایة

وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا (القرآن)

ترجمه:- چاته چی پوهه ورکړی شوه په تحقیق سره ډیر خیر ورکړای شو

الحدیث

وَكَانَ نَبِيُّ اللّٰهِ دَاوُدُ اَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِيْهِ (الحدیث)

ترجمه:- هیڅوک به غوره طعام اونه خوري له چا څخه چی هغه دَ خپل لاس په ستونځه روزی خوري او دَ خدای ج نبی داود ع دَ خپل لاس دَ ستونځی روزي خوړه -

---

اسان پرې معززده نارینه لره جمال ده
بل څه نده کمال ده
روزي به دې بسیار وی دوستان به بی شمار وي
هرچیری به خوشحال ئی هم دی مال هم دې منال ده
بل څه نده کمال ده
د بل موزدور به نه ئی خپل واک به په هر څه ئی
حَضَروی که صَغَروي نه بندیږی لوی مدال ده
بل څه نده کمال ده

کاسب سړی ته کار وې. کار و نه بې شمار وې
بے کاره یا ډاکوشی یا فاحش سرپه جنجال ده
بل څه نده کمال ده

حضرت دې فرمائیلی کسبونه ئی ستائیلی
دالاس دمچیدو دې چی تټاکی وې جنرال ده
بل څه نده کمال ده

حکمت خیرکثیر دې - کیما ده او اکسیر دې
قرآن پدې گواه ده بنه منعم بیا حکمت وال ده
بل څه نده کمال ده

کمال هم آئینه ده عجیبه تماشه ده
هر مخ پکښی لیده شی که زیبا که بدخصال ده
بل څه نده کمال ده

داځینی که مالدار وی :, ظالم وې او غدار وې
چی بد شی باکماله خدای دی ساته لوی دجال ده
بل څه نده کمال ده

میا گل صاحبزاده له چا کوی گیله
ظالم که مالدار نده هم حکمت ئی تش خیال ده
بل څه نده کمال ده



کرامت

چې ئې خدای ته شفاعت وړ د قبول دې

شته میړونه له مؤمنو عابدانو

چې له خدای سره په عهد کې رښتیا دې
رسیدلی خپل مطلب ته صادقانو

چې رحمٰن وائی په یوه قدم رسیږی
معلّی ته تند گذر د درروپشانو

په رښتیا چې لوړ مقام ئې دی موندلی
په بشر کې حق پرستو انسانانو

ایا نه گوری اسرار د خلفاوو

یا په وروسته زمانو کې دولیانو

کرامت او ولایت ئې په رښتیا دې
چې کامیاب شول څوک په ضد د نمرودیانو

د جمعې په ورځ امیر المومنین
ښوی مسجد نه غږ کړی په غازیانو

یا ساری د غره په لور غازیان خواره کړه
قصبات باور مکړه د شامیانو

الجبل وائی مسجد ښوی کی
شام کی ولیده فاروق مجاهدانو

کرامت نده نوشه ده زما گرانه
ظاهرینې بی اعجازه دنبیانو

راشه وگوره اسرار په ویالونکی
گنجینه دعشق حق دعاشقانو

گوره مکوه انکار له کرامته
څنگلونه خالی نه وې له زمریانو

میا گل وائی امنا و سلمنا
مړه ژوندې کی فیضان شته دصالحانو

دکمونزم چرندیات او پنځه دوری

غواړم شرح کمونیزم سفسطه کړم
حقیقت سره هرجز مقایسه کړم
راشی وګورې دا فوچه سفسطه
په نامه دسوسیالیزم فلسفه
تماشه ده هوس ران کمونستان
خیال پرسته احمقان اړیالستان
دانسان ژوند ئی محصور کړې غوټه
ټول بشر ئی وایسته له شرافته
وائی زموږ په خط مجبور واړه جهان دي
بی اختیاره انسان سنګ فلخ مان دې
تاریخی جبر ئی زموږ په لاره بیائی
په پنځو دورو تاریخ انسانان پیائی
ایا څنګه به تاریخ مجبور انسان کړی
یا بی څرنګ پدی لاره را روان کړی
بلی خواته نشی تلای جبر تاریخ
په خدمت کی دکمون شمس او مریخ .
تاریخی جبر عاجز شو امریکا ته
جامعه شوله پشالاړه بل خواته
نو راځی چی دا دورې مطالعه کړو
ځان جبر په پنځه مخه فلسفه کړو

دا د مارکس او لینین عبث خیالونه
تماشا کړو داسی فوج خیال پلونه
دائی ژوند د بشریت پنځه دوړې دې
تاریخی جبر راوړې تماشی دې
اول دور ئی کمون اولیه دې
په بشر کی تیره شوې دا دوره دې
اولی انسانان ټول سره یکسان وو
طبقاتونه خالی دغه دوران وو
بیا کرار کرار پیدا قدرت مندان شول
څه کسان ئی نوکران او غلامان شول
دا دوره د بردگی وله دوهمه
دی پسی فیوډالی راغله دریمه
څه کسان زمینداران څه دهقانان دی
دی دوره کی طبقات پداسی شان دې
دی پسی بله دوره سرمایه دار دې
فابریکو والا کارگر لره بادارا دې
دې دوره کی پابریکی او کاریگر وې
دولت مند وی ماشینونه او نوکر وې
دی پسی به بیا راځی سوسیالستی
ټول ملت به دی دولت کړی غلامی
حکمرانه طبقه به عیش او نوش کړی
خوار ملت به فلور تر یا ظلم کی جوش کړی
خوار ملت به کار کوې په نیم شکم
یا به مرې یا به اخته وې په ماتم

دې پسې کمونیستي ده زما گرانه
دا دوره به خامخا دې بې ایمانه -
جوړ وحشت بربریت ده دې دوره کې
نه ناموس نه کور او ورشته ځیل خانه کې
شځه زمکه مال دولت اشتراکي ده
بس یو ازې دحاکمو باداري ده
نه به موروي نه به پلاروي نه نسب
نه شرف نه کرامت او نه ادب
هر سړی به په تنها دنس نوکروي
نر او شځه به فاحش بد ځناور وي
اوس راځي چې دا پوښتنه ځني وکړو
دا خو خیال وو عملي به ئې په څه کړو
که وتل له تیوی دوري بل ته حتمي وي
کمونست دوره به څنگه اخیري وي
تکامل که ساینسي فرض بولي احمقه
ستا خیالي تکامل څرنگ شو مطلقه
که ددې دورې نه هم انسانان وزي
بیا به ستا په خیال کوم ځائي ته نتووزي
بس دورې خو ستا نیم گړي خیال پوره کړي
پس لدې به خلک کوم خوا ته میلمه کړي
او پوهیږم چې ځواب ستاسي بیا وي
بې له تاسي دي بشر ختم و تباه وي
دبشر نابودي تاسو ته اسانه
انبارونه موجوړ کړې له سلاح نه

اوس بشر پدی پوره پوره پوهیږی
پدی پوچ زیبا لنظو کله غولیږی
استبداد وینی چینبل دی دکارگر
استعمار غوشی خوړل دې دیزگر
فرعونی ده نوی رنگ نوی هنر
طاغوتان دخدای له ذاته وی منکر
چنگیزیان په نوی نوی لباسو کی
سره لیوان به صلحه دوستو دوکانو کی
باداری ده په جامه د نوکرې کی
خون خورې ده په نامه صلحه دوستی کی

میا گل وائی بیدار شی مسلمانو
په دوستی دوستی نابود کړی غدارانو



د مسلمانانو برم ته ایشاره او
د حضرت امام حسین (رض) ویاړلی قیصه
منم دې مسلمانه

عربو کی ذلت وه ظلمونه جهالت وه
تیاره وه ظلم، زور وه شول رڼاله مصطفیٰ نه ـ

منم دې مسلمانه

دوه قرنه وه جنگونه سلیب په نام غمونه
راتلل او روپایان واړه تنویر شول په قرانه

منم دې مسلمانه

رښتیا صدیق اکبر وه ـ اسلام ئی معتبر وه
عالم ته نمونه د صداقت وه باایمانه !

منم دې مسلمانه

نړۍ کی یو سړی وه با عزمه نومیالی وه
منم چی نبی نه وه خو کم نه وه انبیانه

منم دې مسلمانه

عادل حضرت عمر وه رښتیا د عدلو وه
هر څوک ورته حیران شی چی ولولی تاریخ پاڼه

منم دی مسلمانه

دریم یار ئی عثمان وه ټول کړی ئی قرآن وه
دنیا ئی صدقه کړه په دین باندې پی پایانه

منم دې مسلمانه

علی څلورم یار وه دَ خدای زمرې نامدار وه
وړوکی مسلمان شو وئی نه منل بتانه

منم دې مسلمانه

حسن، حسین بریشناوه، لمسیان د مصطفیٰ وه
په حق باندې قربان شول لږ قصه واوره لمانه

منم دې مسلمانه

سر تیری نښه ځوانان وه - د لوړ جنت گلان وه
امت ته ئی درس پری شوده چی تیر شو لوله ځانه

منم دې مسلمانه

که غوښتئ ئی مأوا - قدرت ئی وې مدعا
نو نی لیږه بیعت معاویه ته له پخوانه

منم دې مسلمانه

یزید چی شو گمراه له لارې نه خطا
راپورته شو حسین خاندان ټول شول په قربانه

منم دې مسلمانه

له حق څخه تیر نه شو په مرگ تیر او بیر نه شو
له تندی نه هلاک وه لویه دشته وه سوزانه

منم دې مسلمانه

جهل ورته بچیانو له تندي سیدا لو
ماشوم طفل ئی غیږ کی شو شهید نه شو پشیمانه

منم دي مسلمانه

گلان د خاندان وه اصغر او اکبر جان وه
په خپله ئی سمبال کړه قربانی ته با ایمانه

منم دي مسلمانه

خیمو کی ئی غوغا وه - رنگینه کربلا وه
گلان د خاندان وه قربان شوی له آقانه

منم دي مسلمانه

کوزد زمکه په فغان وه اسمان ته په گریان وه
راغلی مصطفیٰ وه پاس اسمان وه په لړځانه

منم دی مسلمانه

نوبت شو د اغا فامیل شو په غوغا
موږ چا ته پاته کیږو خدای د پاره باباجانه

منم دي مسلمانه

حسین عجب ډاډه وه چی خدای سره میلمه وه
فامیل ته ئی وئیلی تا سو سپارم په یزدانه

منم دي مسلمانه

امام چی ورو توان شو - لښکر ته په گویان شو
ما پیژنی زه څوک یم نه شرمیږی مصطفیٰ نه

منم دي مسلمانه

دچا په غېږ کې لوئې شوم دکومې بې بې څوی شوم
دا غاړه غوڅوې حېلمو نشته مصطفیٰ نه

منم دې مسلمانه

داڅوک تاسو قربان که - په چا مو سور مېدان که
سر تورې مونږ څوک کړی نه شرمېږی له زهرانه

منم دې مسلمانه

لږ وګورې مېدان ته - عباس او اکبر جان ته
راغلی پاک سرور ده پې جړېګی پاس آسمانه

منم دې مسلمانه

داکونډی بې بې څوک دې. دانن چې داسې څوک دی
زګروې ده واوېلا ده پورته کېږې کربلانه

منم دې مسلمانه

ړانده یاست بې غېرته په دواړو ملامته
لږ هم نه زهېرېږی دجړا مصطفیٰ نه

منم دې مسلمانه

وې ګورې ېزېدانو - مخ تورو سرو لېوانو
داسترګی به مولګی په محشر په بابا جانه

منم دې مسلمانه

ماپرېږدی چې زه لاړشم - غزا کی دې ویجاړشم
کافر له لاسه مړشم شهید راشم له غزا نه

منم دې مسلمانه

یا پریږدې چې واپس شم او ځانې خو ته کس شم
یا تاسې قاتلان د اهل بیت شوې بې ایمانه

منم دې مسلمانه

یا بوزې ما یزید ته - خون خور احمق پلید ته
چې دې مې کړې شهید تاسې به خلاص شې له نیرانه

منم دې مسلمانه

خو شمر و خنځیر الو بیعت غوشت ملعونانو
وې یا به قتل کیږي یا بیعت راکه له ځانه

منم دې مسلمانه

امام وې ما تمام که حجت مې نمایان که
له مرګه نه ویریګم نه غزا ده راته ګرانه

منم دې مسلمانه

یزید څنګه تسلیم کم دا سر راته شیرین کم
اعمال د کفر و منی اسلام کې حسین جانه

منم دې مسلمانه

که مرم که پاته کیږم - باطل ته نه تهیتیږم!
په حق مې دی ورکړې دا ټوټې ټوټې مچیانه

منم دې مسلمانه

چې زه په دین قربان شم امت ته به نشان شم
په حق کې په سر لوبه عظمت ده عالی شانه

منم دې مسلمانه

د عشق دغه نېشه وې پټنګ دغه پېشه وی
عاشق قربانوې له معشوقې نه فرزندانه

منم دې مسلمانه

اخرئی مرګ قبول که- طاغوت ئی په ضرور که!
تصمیم ئی داسی وینو چې درځمه باباجانه

منم دې مسلمانه

خالد ته ګورې یاره- چې څنګه وه دلداره
شامات ئی فتح کړه طاغوت ئی وشاړه دې خوانه

منم دې مسلمانه

په فارس باندی غزاوه- په کفر واوېلا وه
طاغوت ته قومندان لیکی نامه له خپله ځانه

منم دې مسلمانه

له موږ سره یو قام ده ایمان والائی نام ده
بس مرګ دو وئ خوشېګی ډېر د تاسی له صهبانه

منم دې مسلمانه

طارق لاړ هسپانی ته- د حق مجاهدی ته
کشتی ئی واړه وسوی شو بېغمه کور له خوانه

منم دې مسلمانه

چا اوکړله پوشتنه- طارق نه ګو ېګنه
دا کار د تدبیر نه وه ناامیده شوی له ځانه

منم دې مسلمانه

ده ویلی ماوئیلی - دَ خدای سره می کړی
داواړه ککرې موسوداکړی په سبحانه

منم دې مسلمانه

مسلمه هسپانیه شوه بنا طَلِی طَلُعَه / شوه
زرگونه ئی شعبی وی مدرسه وه عالی شانه

منم دې مسلمانه

په خپل وخت قُرطُبَه وَه - نامداره غَرنَاطَه وه
علوم ئی هسک اوچت وه په هر شمق له نن زمانه

منم دې مسلمانه

دوخت ابن سینا وه - ډاکټر وه لویه ملا وه
له طب څخه ئی نن زمان مفید واړه جهانه

منم دی مسلمانه

عالِم ابوریحان وه - نامداره دجهان وه
لیکلی کتابونه ئی ساینسی اوچت بی شانه

منم دې مسلمانه

داشان جمال دین ؒ نامداره قطب الدین وه
زرگونه علماء دخپل زمان دانشمندانه

منم دې مسلمانه

میان گل صاحبزاده - تن ورځ هماغه ده
قرآن کی دې موجود دې په زرهاداسی جهانه

منم دې مسلمانه

دکویت څخه درارسیدلی لیک ځواب کی

اے گرانہ امین جانہ ستاسو خط راورسید
پہ وخت دخوشحالو کی پہ عزت راورسید

عجیب شوم کی خوشحالہ چی نامہ می کړہ ترلاسہ
داستاسو داحوال سلامت راورسید

دتالخوا سلام دعظیم جان هم ورسرہ وہ
دگرانو شاگردانو محبت راورسید

تاما او یعقوب جان تہ محبت وہ رالیږلی
خوشحالہ یم دا ستاسو شوائق راورسید

قلم وہ پکی نبہ دغہ حق داستاذی وہ
وفالری ربنتیا ستاسو منت راورسید

نامہ می ستاسو ولوستلہ نبہ پی مطمئن شوم
یاوری شو ربنتیا ستاسو دستخط راورسید

تاویلی وہ احوال دزورونکی وطن راکړہ
روسان پہ تشتید و دپی شفامت راورسید

راځہ چی دشهید دپلار احوال درتہ بیانکړم
دی وائی پہ سنګو کی آه حسرت راورسید

گډلہ لہ چانہ وکړم خپل قسمت راورسید
لاهو شوم پہ بلا کی مصیبت راورسید

واړه واړه لمسیان شول راته پاته کنډ والوکی
ژړ یګم ورته ګورم مظلومیت راورسید

ژړاده شواخون ده کورته نه شمَ تلی د ننه
پلرونه رانه غواړی غرامت راورسید

نه فرش شته نه تړتک شته له یخی رانه رپیګی
نه بوټی شته په کورکی بس حسرت راورسید

نه ژرنده نه اتام شته نه غوړی نه تیل او مانګه
نه کورکی دستیار شته بس آفت راورسید

بوډایم نابینایم چیرته لاړ شم لویه خدایه
چورتونه اوسوچونه ندامت راورسید!

زامن می شهیدان شول کورکالی می لولاپه شول
سری غوشی بچونکی شرارت راورسید

غړمیا وه دتانکونو غړمیچار دسرلمبولو
جوړ تندر وو طوفان وو شومیت راورسید

لیوان ځناوران دسرو برچو سره راکوز شول
ټول کورمی چپاول شو خسارت راورسید

زامن می مخکی لاندی په غاروکی دوشا تلی
روستانو رانه بوتله بدقسمت راورسید

سری وینی وی جړاوه راته جوړ کربلاوه
زخمیان وو شهیدان وه لوی زلت راورسید

خالقہ ذالجلالہ ستا رضا زما نصیب کری
کہ ستا پہ درقبول شی لوئی عزت راورسید

نہ خوار یم نہ ذلیل یم نہ شرم شرے یم خالقہ
عظمت دے عبادت دے کرامت راورسید

میاں گل صاحب زادہ کہ ستا پہ لارہ کی قربان شم
کامیاب شوم بھرور شوم شی افت راورسید

***


غزل

صاحب حبیب الله وه رښتنی مقتدا وه
صادق او باوفا وه
روان شو لدنیا د حق پلو دې بختوره
غوغا شوه لر او بره
عجب وو مجلسونه - تدریس او کتابونه - لمونځونه او ذکرونه
لوی پیرو دستگیر افغانستان پی منوره
غوغا شوه لر او بره
عاشق په پاک سبحان وه - داعی د پاک قرآن وه - رښتیا سره لوی ځوان وه
چراغ د طریقت وه - د پیرانو ښه رهبره
غوغا شوه لر او بره
د حق سره ئی کار وه - لنگر ئی مزې دار وه - عجب ښکلی دربار وه
ټول کار ئی بی ریا وه حق ویونکی حق پروره
غوغا شوه لر او بره
خلقیان ئی په غوغا کړه - اخته ئی په بلا کړه - په ځان ئی مبتلا کړه

جهاد فتوائی ورکړه په اول کی عالی غوره
غوغا شوه لر اوبره
صاحب د کرامت وه - فیضان ئی ښه اوچت وه - خادم د شریعت وه
روان شو لدنیا د حق لقائی کړله غوره
غوغا شوه لر اوبره
دې ځوې د محمد جان وه - لمسی د باباجان وه - ولیان ئی ماذونان وه
چی ته د حق په لورې په ملکو وه اختره
غوغا شوه لر اوبره
ورځ د یکشنبی وه - شه میاشته د روزی وه - شب قدر رانږدی وه
رحیل وو - الفراق وو - مریدان شول دربدره
غوغا شوه لر اوبره
میان گله راشه جاړا - گناه عفوه دې غواړه - ځان نفس باندې مه داړه
تعقیب کړه د خپل پلار نقش قدم شریعت غوره
غوغا شوه لر اوبره



د ترکی په نام دموکرتیک

شوروي په شمالی قطب پرته ده
لوی بحرونه ئی جامد کنګل په شان
غواړي ځان ورسوي تو ذ واو بوته
ډیر پنځوالا د لینن وو دا پلان
بل ملکونه اسلامی واړه سونا ده
تیل او شته ئی معادل د ټول جهان
وي مطلب د پاره غواړی یرغل وکړی
ګونډی مال کړی خوراسان او پاکستان
تحریکات انحرفات دلته شروع کړی
منځ ته راوړی ملک دننه پلویان
بخارا پیشان فکري نفر پیدا کړی
جامعه کړی له دننه په لړځان
تدریجًا ازادی خوا فکر خاموش کړی
تری نه جوړ کړی ثمرقند ازبکستان
په کرار کرار اسلام له منځه یو سئی
منحرف کړی په ټولنه کی ځوانان
چی اکثر په جامعه کی ملحدان شی
بیا قدرت لاسته کوی په یوه شان
پلور تریا دکتا تورې هلته پیاده کړی
اختناق ترور پشار ظلم و قتلان
ډیر ملکونه اسلامی اوروس قبضه کړه
بخارا تاجک قضاق ازبکستان

دلینن په زمانه امان الله
په وطن کی منځ ته راوړه پښتن زلمیان
ترکی ببرک خیبرئی بقایا وو
چی دکفر د پالټی شول رهبران

په اول کی خلق پرچم یوه پالټی وه
شوروي قبوله کړه په داود خان
مرامونه د لینن غواړی پیاده کړی
شوروي ته کړی تقدیم افغانستان

دا پالټی اوروس په دوه برخو تقسیم کړه -
یو پرچم شو دوهم گونه شولو خلقیان
څو د خلق په واسطه غریبان ټول کړی
په پرچم دولت مندان او خپرالان

مصنوعی تضاد سبب د شه ایجاد شی
مؤثر شی په هر لوری فاسدان
خو چی کله د داود مقابله وه
بیرته یوشی وو خلقیان او پرچمیان

حکومت ئی لاسته راوړ دواړه لو
داوروس په مرسته شول حکمرانان
ترکی چی وه د خلق د ډلی مشر
شو رئیس د حکومت هغه زمان

اوروسانو ته ئی واړ ورکه خلقیانو
چی مرږ ۹۹ فیصده یو په ځان
نور زموږ ه مقابل څوک د لته نشته
اوس زموږ لاس ته محتاج دی افغانان

په هر شکل اړولی جامعه شو
منتظر یو د دستور او د پلان
اوروسان شول مطمئن دستور ئی ورکه
روحانیت نیست او نابود کړی په یو آن

هغه څوک چی الحاد نشی هضم لی
پاتی نشی داسی خلک په هیڅ شان
چی پوهیږی څوک په زړه کی جوګه نه وی
دهریت کمونستی لره پټان

تَرَکَیَان واختناق جبر شروع کړ
کور په کور ئی مقرر کړه جاسوسان
علمائی په هر ځائی کی ګرفتار کړه
ځیل خانو ته ئی روان کړه ماشومان

مشائخ ئی تش په توره قلابند کړه
شځی او نر ئی تری تم کړلو پیران
مسلمان ځوانان ئی هر چیری بندی کړه
قیل پانه شوو مسلمان منعبداران

چی به چالږ زندګی وه پیدا کړی -
تار و مار شول په نامه دولت مندان
فرمانونه شول شروع د احمقانو
خپل ذاتی کفر او الحاد ئی که بیان

خوانین صاحب رسوخ په سپکو سپک شول
دشمنان وو د اشرافو رذیلان
زمینداره نه ئی زمکی کړلی ضبطی
میټینګو کی ئی رسوا کړه غریبان

په مارشو کی ئی روان په مسخرو کړه
غپیدل له هرې خوا ورته خلقیان
بیائی وا چول په تور وځیل خانو کی
په زړا په انګولا شځی کوچینان
جونکی ئی په بازار کی رقصولی
رقصولی ئی په جادو کی هلکان
فحش شراب ئی د برچو په زور رواج کړه
حاکمان شول شرابیان او کبابیان
مسجدونه زیارتونه ئی پایمال کړه
تار په تار ئی کړه درسونه طالبان
د دولت نظام ئی سرتر بیخه وران که
هلکان شول وزیران ګورنران
فحش فاسد مکتبیان هر چیری خلقیان وو
په مکتب او په قریو کی مفعولان
زندیقان د پلار او مور له خوا معقوق
قوم ولس وارو رټلی خنزیران
مشهور په فسق فساد او کفر باندی
یوناڅا په شول والیان ولسوالان
څوک انګار وو څوک افت وو څوک بلا وو
په افغان ولس شو جوړ تندر توفان
نه پوهیژم خو دجال وو را پیدا شو
خوار او زار ئی که زموږ افغانستان

میاګل صاحب زاده لاس په دوعادې
ذالجلاله نور مهدې کړی راعیان

د مسلمانانو قیام د کمونستانو په ضد

الله کریده وعده په خپل کتاب کی
چی راپورته کړم قوم د مسلمانان
داسی خلک چی د خدای رسول دوستاوی

عند الله سرونه کیږدی په قرآن
د الله په لاره سرومال قربان کړی
کړی قربان پدغه لاره فرزندان
نه دچا په ستوغو سپور وخسته کیږی
زب زباړی کړی هر چیری طاغوتیان
داسی قوم ته د پری ستر بشارت دی
پاک الله ئی مددگار په هر میدان
هم هغه وو چی قیام وکړو ملت
په هر ځای کی شول راپورته مسلمان
په برچو به سرو روئی ور هلاکړه
په سره اور ورتو بیدلو پتنگان
دچا لاس کی تبرگی دچا لرونه
چا په تش لاس تسلیم کړی عسکریان
په زرکونو نر او شځی شهیدان شول ـ
لا پدی کی زیاتیدو ددوی ایمان
په هر ځای کی د تکبیر ناری خوری شوی
په اول ډر دنگ ازاو شولو جدران
هره خوا د شهادت هوس رانی و
هزارانجونه قربان شوی په قران

جوش خروش وو ولولی را پاریدلی
ولوسونو پرگنوکی د ایمان
اوروسانو هم هیڅ شان صرفه ونکړه
دو زلو د ینولو د قتلان -
ناڅاپی به ئی په کلی شبخون جوړ کړ
لوی واړه به ئی حلال کړلو یکسان
علماؤ د هجرت فتوا وې ورکړې
ولسونه پاکستان ته شول روان
په لکونو خلک راغله پاکستان ته
مسافر شول په ملکو اواره گان
غواړم شوحه کړم هجرت د مسلمانو
چا چی پریښوده عزیز افغانشان
هغه کلی چی یه پوه شول پری خلقیان
چه دوی قصد د تللونن زمان
یو ناڅاپه به قوه راغله دی خواته
لوی واړه به قلابند شولو خواران
ناڅاپی به غړم بهار شود تو پونو
په جړا په منډ وسر شول ماشومان

څوک به وواته له کلی په اوروکی
په ځانگوکی ځینی پاته ماشومان
چا نه ورک به وو سپین ږیری شځی نجونه
په رغوکی به خواره وو سرگردان

جا به وریت ټوټي ټوټي جگر گوشه وو
هر فا میل نه به دوه دری وه شهیدان
چا نه پاتی نیم بسمل جگر لخطه وو
وچی شو نډی سره په وینو کی زخمیان

میا گل صاحب زاده لیکنه بس کړه
اوریدونکی دی غمجن کړهک حیوان



رسواشوی ای بی دہنہ

دعوی د غم خوری وی اوس څشی د اسانا وینہ ؛ - رسواشوی ای بی دہنہ

خواخوگی صلحہ دوستی وی مالوچو څخہ پوست وی

لہ خلکو څخہ پټ وی جاهلانو تہ شریښہ ؛ - رسواشوی ای بی دہنہ

څېرہ دې د اسان د ہ جوړہ د ہی دې شیطان د ہ

برمنډ شوې برالاشوې - سرہ روسہ بدنا وربنہ ؛ - رسواشوی ای بی دہنہ

شعارئ کارگران وہ - پہ کارئ غریبان وہ

اوس گورہ اورئ بل دہ غریبان کی سوزوینہ ؛ - رسواشوی ای بی دہنہ

ربنتیا کہ فلسفہ وی جبری تاہ پخہ سرہ وی

بیا اوس څہ ضرورتا دې چې د اعام قتل کوینہ ؛ - رسواشوی ای بی دہنہ

تاہ پخہ بڑئ پیا دہ کی سوسپال بہ جامعہ کړې

څہ ټوړې ولی څغلی چې کوروړ نہ لگوینہ ؛ - رسواشوی ای بی دہنہ

دوکہ ئی نماہان شوہ د اپوچہ ئی عیان شوہ

ربنتیا صاحب زادہ اوس ئی دنیا شہ پیژنی نہ ؛ - رسواشوی ای بی دہنہ

* ؛ * ؛ * ؛ \

روس خپلی اشتباه ته متوجه شو

او روسان پوه شول په ځان چی دوکه شوی
په خلقیانو پرچمیانو شرمیدلی

نه لری خلقیان قدرت په جامعه کی
په دعوو کی روسان راغلل په دوکه کی

۹۹ فیصده پریژده یو په سلو
خلقی نشته ځان ئی هم وغولولو

شوروی چی په چل وړاندی کیده لای
ملحدان طرفداران پیدا کیده لای

په ظاهره مو اسلام وای غولونکی
دپردی شاته مرکار وای تیرا یستونکی

هغه وخت مو د الحاد کړی اعلان وای
چی مو ۹۹ جوړ کړی ملحدان وای

نو ترکی ئی روسی ته وبللو
په قصه ئی شه واضح وپوهولو

بریژنیف ورکړه ترکی ته فرمان
په وژلو د امین پټ وپنهان

امین دوږنه ملګری کړه کارمل
پرچمیان او خلقیان کړه دلاری مل

دری شوی قتلانو امین بانه کړه
میانه دوشه د ظاهر پور ته جنډه کړه

څو داخلک شی دوکه وطن ته راشی
په کرار کرار به بیا ختم او تباه شی

(دهور) الحادی غږ دستی خاموش کړه
فحشا زیاته کړه پدی ځان سبکدوش کړه

مکتبونه تدریسونه د کفری وی
د خلقیانو فعالیت دی علنی وی

چه اکثر شو جامعه کی ملحدان
بیا نزور غارت شروع کړه پټ پنهان

لاس پښی به داوس وی تړل شول
چی ئی څرنګ جوړ وی هسی به شوی

چی ترکی دوباره وطن ته ستون شوو
استقبال ئی په ډولو او په مضمون شو

خون اشام امین میدان وو پوشولی
په قالینو ئی خیابان وو زلولی

جونکی وی په قطار قطار ولاړی
د دې کار ئی اواز ې هری خوالاړی

له پلانه د اروس نه وو خبر
وفادار وو د ترکی ځناور

وو تړون د ترکیانو همسفر
دامین وو وفادار او همنظر

دستی دم ئی نه قصی نه باخبر که
امینیانو په هر ځای ځان برابر که

دروسی سفیر دجال ویچ پوزانوف وو
ارګ دننه ئی سم کړی ګرنیوف وو

خون اشام ئی په تضمین سره روان که
نور محمد سره ئی جوړ دغه پلان که

چې را وو رسیده واړه دلکشاته
ډزې وشوې مخامخ دامین خواته

تړون مخ کې دامین وو وتا یه
ځای په ځای شو مخامخ کوفته کوفته

امین ځان په رغښتو خلاص که لدې ځایه
هرې خوا ډزې شو روع شولې له ورایه

امینیان او ترکیان مقابله شو و
هرې خوا ئې مردار پریواته گفته شوو

شو کامیاب حفیظ الله په نتیجه کې
ترکی ئې کشینا وه په ځیل خانه کې

اضرب کې ئې په خوله بالشت ورکشود
ابداً ئې جهنم خواته ورپرې شود

دین وطن ناموس ئې واړه وو بایللی
زندیقان وو اقتدار د پاره غلی

لایزال ئې ځان باله زوال ئې وکه
یوه میاشت شولو پادشاه کمال ئې وکه

وی پښانه تلونکی زموږه انقلاب ده
نه ماتیږو وموږه شاته موسیلاب ده

ولی راشی حکمتو ته دَ الله
د دنیا ستر نمرودیان ئې کړه تباه

تره کې ئې په ما وجود اقتدار کې
پوه پناه که د ټانگونو په حصار کې

میا گل صاحب زاده دی نکړی غم
چې د خدای په شریعت باندی وی سم

خامخا به پورته کېږو

که په سرو وینو لمبېگم — که په اورکی گوزار ېگم
که سره دارته پورته کېږم ! — که هر څو قېل پانه کېگم

برې تل زمونږ پخوا دې
اخر مونږه کامیابېږو
دا مو عزم په رښتیا دې
خامخا به پورته کېږو

که کورونه مو بمبارشی — کنډواله زمونږ گل زارشی
یا پلرونه مو ازارشی — یا بچیان مو خوار او زارشی

پرمخ تگ مو برالا ده
اخر موږه کامیابېږو
دا مو عزم په رښتیا ده
خامخا به پورته کېږو

که په پرکو د توپو کی — تورو دوړو بمبارو کی
خړ سپېره ېو په رغو کی — وږې تږی په مورچو کی

مگر لاره مو رڼا ده
اخر موږه کامیابېږو

دا مو عزم په رښتیا ده
خامخا به پورته کیږو

که ډېر مړه شوه شهیدان راته پاته یتیمان
اواره شوه سرگردان کونډې رنډې په گریان

نن دښمن مو په غوغا ده
اخر مونږه کامیابیږو
دا مو عزم په رښتیا ده
خامخا به پورته کیږو

اګرېن دې وې افغانه ستا پدې ستره میړانه
ستر دجال دې که لړزانه رانسکور دې کړه خرسانه

نوره توره شپه صبا ده
اخر مونږه کامیابیږو
دا مو عزم په رښتیا ده
خامخا به پورته کیږو

نن دښمن په ختمیدو دې لوې طاغوت په ماتیدو دې
سور خنځیر په تښتیدو دې میاں گل په خوشحالو دې

شکرانه د پاک الله ده
اخر مونږه کا بیږو
دا مو عزم په رښتیا ده
خامخا به پورته کیږو

★:★:★:★:★:★:★:★:★:★:★:★:★

ریاکار یا غدار

که رښتیا سره سلطان شی په دنیا کی
بی د خدای له محبته څه پکار
چی توفیق د عبادت ورکړی له لاسه
تخت دولت نام او نشان دی عبث کار
چی ظلمونه دی له لاسه را بهر شی
که سل ځله مجاهد شی شولی خوار
که هر څو نفل کوی او په سجده وی
لا هنوز د خدای مغضوب دی بدعت کار
که سل ځله شیخ زاهد شی لوی ملاوی
چی غیبت کړی څه شی نه درځی په کار
د دنیا په لذتو نازیده نه شته
بی بقا عبث فانی ده دا گلزار
که د مخ شو بس الله ته بیا دلدار ئی
عقل داده بل رقم نه ده په پکار

که د خدای په محبت دې عالم هېرشو
دغه حال ده ولایت ده هرڅه کار

په ریا چې عبادت کړې مخ ئې تور ده
سخت بې قدره ده الله ته ریا کار

دریا حج اوروژه عبادتونه
واړه شرک ده د یکتا پرودګار

زحمتونه دریا په یخ لیکل دې
له حبابو جوړول د غاړې هار!

